انتوان دو سانت اکزوپېري

# کوچنی شاهزاده

د لیکوال د انځورونو سره



Download from:aghalibrary.cm

پښتو

Pashto
(Afghan)



بسم الله الرحمن الرحيم

زما په خیال چي دی د خپلي تښتني پر وخت د وحشي مرغیو د سېل سره تللئ وو.

ډالۍ:

ولیون ویرت ته

زه د ماشومانو څخه بخښنه غواړم، چي دغه کتاب و یو لوی سړي ته اهدأ کوم، خو زه هم د دې کارد پاره یو لوی عذر لرم، هغه دا چي دغه لوی سړئ زما پر ټوله نړۍ نړدې ملګرئ دئ. زه یو بل عذر هم لرم، هغه دا چي دغه لوی سړئ په هرڅه پوهیدلاي سي، حتا د کوچنیانو په کتابونو لا هم. زه دریم عذرلا هم لرم، هغه دا چي دغه لوی سړئ په فرانسه کی ژوند کوي. دی هلته وږی تږی ګرزي او یخ یې کیږي. دی و زړه سوي او دلاسایي ته ډ یر اړ دئ. که چیری د غه عذرونه بیا هم بس نه وه، نو زه دغه کتاب یوه ماشوم ته ډالۍ کوم، چي یو وخت لوی سو. ټوله لویان یو وخت ماشومان وه ( خو د دوي څخه ډیر لږ کسان دغه ور په یادولاي سي ).

نو زه هم خپله پیرزوینه داسي سموم:

و لیون ویرت ته

چي دی لا یو ماشوم وو.



زه چي لا د شپږو کلو وم، په یوه کتاب کی چي "د ربښتیا نکلونه" نومیدئ، او پر طبیعي ځنګلونو لیکل سوئ وو، یو ښایسته رسم لیدلی وو. دغه د یوه لوی مار رسم وو چي یو وحشي حیوان یې خوړئ. دا هم د دې رسم یوه کاپي ده.

په دې کتاب کي راغلي وه چي د بوا ماران خپل ښکار په یوه پلا تیروي، بیله دې چي په غاښو یې سره ټوټه ټوټه کړي. د ښکار تر خوړلو وروسته نو د تر په ولو یږي او شپږ میاشتی په درانه خوب بیده سي چي خپل خواړه هضم کړي.

ما هغه وخت د ځنګله پر ژوند ډېر چورت واهه او خپل لومړی رسم مي په یوه رنګه قلم و کښئ.

زما لومړی رسم داسی ایسېدئ:



ما بیا دا خپل کمال ولویانو ته ور ښکاره کئ او پوښتنه می ځني وکړه، چی دا زما رسم تاسي نه بیروي؟

دوي به په جواب کی راته ویل: "ولی نو وبیریږو، دا خو مازی یوه ټوپۍ ده!".

خو زما رسم د ټوپۍ نه وو بلکه د یوه مار رسم وو چي بسته پیل یې نوشاوه.

دا وار می خلاص بوا رسم کئ، چي لویان یې سم وو ییني، ځکه چي دوی وهر شي ته بیانونه غواړي.

دا هم زما دوهم لمبر رسم دئ:



پسله دې لویانو وماته نصیحت وکئ او راته ویل یې چي د خلاصو او تړلو لویو مارانو د رسمولو څخه لاس واخله او پر ځاي یې کوښښ وکړه چي د جغرافیې، تاریخ، حساب او ګرامر

د زده کولو سره مينه پيدا کړي.
نو ما هم خپل هغه شوق چي يوه ورځ دي لوي انځورګر سم، په شپږ کلنۍ لا د لا سه ورکئ. زما د لومړی او دوهم لمبر رسمونو نا کامۍ زه بې جرئته کړم. چي رښتيا سي، د لويانو هيڅ وخت پخپله سد نه رسيږي او و کوچنيانو ته بيا زور غواړي چي و دوي ته هر وخت بيانونه وکړي. نو زه هم و دې ته اړ سوم چي په يو بل کسب پسی و ګرزم. په دا نورو کسبونو کی مي پر پيلوټۍ باندي ناټ کښينستئ او پيلوټي می زده کړه. پر نړۍ می دوري هوري الوتني و کړې ، خو چي رښتيا سي جغرافيه می ډيره په درد وخوړله. ما وکولاي سوای چي د سترګو په رپ کی د چين او اريزونا تر منځ توپير وکړم. دغه د سړي ډير په ښه ورځي، په تيره بيا که چا د شپې لار ورکه کړې وي.
ما په خپل ژوند کي د ډيرو معتبرو خلګو سره ناسته ولاړه کړي ده، اکثره هم د لويانو سره مخامخ سوئ يم،او دا فرصت مي پيدا کړيدئ، چي دوي له نږدې څخه وپيژنم، خو دې کار زما و نظر ته د دوي په هکله چنداني ګټه و نه کړه. ما چي به پر يو چا باندي د ځيرک سړي خيال وکئ، نو به مي ژر هغه خپل اول لمبر رسم ( چي تر هغه مهاله مي ښه خوندي ساتلئ وو ) ور ښکاره کئ او کتل به مي چي په پوهيږي او که نه، خو هر وار به ما ته د غه جواب راکول کيدئ چي "دا خومازي يوه ټوپۍ ده". پسله دې به ما نه د بوا مارانو په هکله څه ويل نه د لويو ځنګلونو او نه هم د ستورو په هکله. زه به دده پر خيال ورسره تلم، نو به مي د تورو او ټيکو او يا د سياست او کلنګي چړګانو او يا هم د دريشيانو او نيکټايانو خبري راواخيستې. پسله دې به دا لوی سړئ سره باغ باغ سو او پدې به خوشاله وو، چي زما غوندي هوښيار سړي سره مخامخ سويدئ.

{۲}
نو هغه وو چي زه يوازي پاته سوم او داسي څوک مي نه درلود چي د زړه خواله دي ورسره وکړلای سم. تر څو چي دا شپږ کاله د مخه په لويه صحرا کی يوه واکيه را پيښه سوه. زما د الوتکې د انجن يو شی د کاره لويدلئ وو. څرنګه چي زما سره په الوتکه کی نه يو ميخانيک او نه يو مساپر وو، نو مي په يوازي سر د الوتکي و جوړولو ته ملا وتړله، دا زما د پاره د ژوندا و مرګ خبره وه.اوبه به مي اته ورځي لا نه واي بس سوي.اوله شپه په ريګ کی خوب يوورم، په زرو ميله د کليو او ښارونو څخه ليري لويدلئ وم، حال مي تر هغو خلګو لا اوتر وو چي بيړۍ يې د درياب په منځ کي ډوبه سوې، او پر يوه تخته موښتئ وي.تاسي نو سوچ و کړئ چي زه به څونه حيران سوئ يم، چي په دا سبا سهار وختي يوه نازک او عجيب او غريب اواز د خوبه را

وینښ کړم او راته ویل یې چي:
"مهرباني وکړه ... ما ته یو پسه را رسم کړه !"
" څه دي وویل"
" وایم، یو پسه را رسم کړه... "
زه د ځایه داسي جست را وغورځیدم لکه په بدن کي چي مي بریښنا چلیدلې وي.
خپلې سترګي مي ومومښلې، بیا مې سم ورته وکتل. چي ګورم، یو کوچنۍ په تیره بیا یو ډیر غیرعادي هلکۍ راته ولاړ دۍ او په ځیر ځیر را ته ګوري.



دا هم دده تر هغو ټولو رسمونو ښه رسم دۍ چي ما وروسته کښلۍ دۍ.

خو دا رسم هغونه په زړه پوري نه دۍ لکه دی پخپله.دا نو زما ګناه نه بولم، ځکه زه لا شپږ کلن وم چي لویانو د رسامۍ د شوقه را ګرزولۍ وم او بیله خلاصو او تړلو غټو مارانو پرته مي د بل شي رسمول نه وه زده کړي. وروسته مي سترګي ښې رډي کړې او و دې نورکه شی ته مي په حیرانتیا سره وکتل.دا هم هیر نه کړئ چي زه په زرو میله د هستوګني دځایونو څخه لیري لویدلۍ وم. دا کوچنۍ ځوانکۍ هم په نظر داسي نه راتلۍ چي لار دې ورکه کړې وي او یا دي ستړۍ ستومانه، وږی تږی وي او یا دي د مرګ بیري نیولۍ وي. دی داسي هم نه ایسېدۍ چي یو کوچنۍ دي په زرو میله د کلیو او کورونو څخه لیري، دلته په بیدیا کي ورک سوئ وي.زه چي یو څه پر خبرو راغلم نو مي ورته وویل:
" مګر... ته او دا ځاي؟" ده په ډیره نرمه ژبه او په داسي ډول لکه یوه بیخي مهمه خبره چي وي

راغبرګه کړه چي:" مهرباني وکړه، یو پسه را رسم کړه... "

یو راز چي ډیر په زړه پوري وي نو سړئ نسي تر تیرېدلای.
که څه هم عجبه راته ایسېدله چي په زرو میله د انسانانو د کورنو او اورونو څخه لیري لوېد لئ او د مرګکي بیري هم نیولی وم، خو د دې ځوانکي ناز مي ومانه او د خپل جیب څخه مي خودرنګه قلم او کاغذ را وکښل. پر دې وخت یو وار په خیال کي راوګرزیدل، چي تا خو یوازي جغرافیه، تاریخ، حساب او ګرامر زده کړه کړې دي، نو مي په نیمه ژبه ورته وویل چي زه خو رسم نسم کښلای. ده راته ویل:
" پروا نه لري، یو پسه را رسم کړه ! "
څرنګه چي ما تر اوسه لا پسه نه وو رسم کړئ، نو مي د هغو دوو رسمونو څخه یو ورته وکیښ، د هغه بوا رسم. زه د دې ځوانکي خبري ته هک پک پاته سوم، چي راته ویل یې:



" نه ! نه ! زه د لوي مار په نس کي پیل نه غواړم. لوي مار خو ډیر خطر لري او پیل بیا ډیر ځاي غواړي. زه په کور کي دونه ځاي نلرم. ماته پسه را رسم کړه. "
وروسته مي پسه ور رسم کئ.
ځوانکي په ځیر ځیر ورته وکتل، بیا یې وویل:
" یه، دا خو ناجوړه دئ، یو بل پسه را رسم کړه ! "
بل پسه مي ور رسم کړ.



دا وار مي انډیوال په خورا ادب سره ومسل او په احتیاط یې راته وویل چي:
" ته هم ښه پوهیږې... چي دا پسه نه دئ، د غره مږ دئ، پدې چي ښکرونه لري... "

ما یو بل رسم ور وکیښ، خو دغه رسم یې هم د خوا ناچیه وو، لکه هغه نورا و ویل یې:
" دا خو ډیر زوړ دئ، زه داسي پسه غواړم چي یو څه عمر خو لا ژوندئ وي. "
زما هم اخیر نفس ورته تنګ سو، بل هم دا چي اوس مي نو باید په خپل انجن لاس وهلئ واي.
نو مي په یو څو کرښو ورښو دغه رسم په لاس ورکړ او په ګریز مي ورته وویل چي:
" دغه سوندخ (صندوق) دئ، هغه پسه چي ته یې غواړې په دې سوندخ کي دئ ! "



زه و دې سختګیره کوچني ته اریانی واخیستم، چي تندی یې سره وغوړېدئ او ویل یې:"داکټ مټ هغه شی دئ چي ما غوښتئ. ته وایې دا پسه به نو ډیر

وا ښه غواړي؟"
"ولي؟"
"ځکه چې زما په کور کې ټول شيان کوچني دي..."



"حتماً ځايږي. ما يو ډېر کوچنۍ پسه در رسم کړی دئ."
"دونه کوچنۍ هم نه دئ لکه... ؛ ورته ګوره ! هغه بيا بيده دئ..."
په دغه ډول ما دا کوچنۍ شاهزاده وپېژندئ.

{۳}

ترڅو چې زه په دې پوهېدم چې دی د کومې خوا راغلی وو، ښه ډېر ځنډ په کښېيوتئ. دې کوچني شاهزاده به زما څخه پخپله پر له پسې پوښتني کولې، خو دا سې ايسېدئ لکه زما دا چې هيڅ نه اوري. خو د يوې يا بلې خبرې څخه به يې کرار کرار د رازه پرده پورته کېدله.
د ده چې د لومړي ځل د پاره زما الوتکې ته پام سو (الوتکه به مې نه وای ور رسم کړې، ځکه د الوتکې رسمول اسانه کار نه دئ) نو يې وپوښتل چې:
"دا څه تاتوک دئ چې دلته پروت دئ؟"



ما ورته وويل چې:
"دا تاتوک نه دئ، دا الوزي، الوتکه ده. دا زما الوتکه ده."
ما نو په دې غاړه جګه وه چې و ده ته مې ويل، زه الوتلای سم. خو د ده يو وار ناره سوه چې:
"څنګه؟ ته نو د اسمانه را لويدلئ يې؟"
ما په کيمينۍ سره ورته وويل: "هو"
"اوهو ! دا خندوره خبره ده..."
د دې سره سم کوچنۍ شاهزاده د خندا ميل ولاړئ، چې رښتيا سې زه يې هم و دردولم.
زه خپل غم اخيستئ وم او دا راته مهمه وه چې زما واکيه هم په پام کې ونيول سي. خو ده پسې اوږده کړه چې:

"ښه، ته چي هم د اسمانه راغلئ يې، نو د کوم ستوري يې؟"
ما ته يو دم دده پر راز يو څه رڼا ولويده او په تلوار مي پوښتنه ځني وکړه چي:
"نو ته د بل ستوري څخه راغلئ يې؟"
ده جواب را نه کړ، خو په داسی حال کي چي زما الوتکي ته چورت وړی وو، کرار يې خپل سر وښوراوه او راته ويل يې:
"معلوميږي چي پر دې شي دی د دونه ليري ځايه نه يې راغلئ... " وروسته دی په خپلو فکرونوکي ډوب سو، چي ډېر ځنډ په کښېوتئ. بيا يې هغه زما پسه د جيبه راو کيښ او ودې خپلی خزانې ته ښه چورت يو وړ.
تاسي نو سوچ وکړئ، چي د دې ځوانکي د"بل ستوري" خبري به نو زما په پايڅه کي څنګه کيکه را ايله کړې.نو نور هم په پسې سوم، چي پوره يې په حال خبر سم.
"ښه ځوانکيه، ته نو اوس دا راته ووايه چي ته څوک يې، د کم ځاي يې؛ څه د کاڼو او بوټو خو نه يې پيدا ! او دا زما پسه چيري د ځان سره بيايې؟ "
ده پسله يو څه چورته راته وويل:
" ددې سوندخ چي تا و ماته ورسره راکړی دئ، لوی ښه والی په دې کی دئ، چي ده ته د شپې له خوا د خوني کار ورکوي !"

"په رښتيا هم، خو که دي سم حال راته ووايه، نو په انعام کي به يو پړئ هم پسي درکم، چي د ورځي يې په تړې. يو موړئ لا هم پر سربيره !"
پر کوچني شاهزاده د پړي او موړي خبره ښه نه ولګيدله، ويل:
"ويې تړم، څنګه د عالمه وتلې خبره دي وکړه !"
"خو که يې ونه تړې، درڅه ولاړ به سي...
"
زما شريک بيا کټ کټ په خندا سو:
"نو چيري به ولاړ سي؟"
"داسي مخامخ، يو ځاي لا نه يو ځاي ته !"
وروسته کوچني شاهزاده په سمه راته

وويل چي:
" پروا نه لري، زما په کور کي بيله هغه هم دونه ځاي نسته ! "
او يو څه په فکرجن ډول يې دغه لا هم وويل:
" سېځ هلته دا سي مخامخ بيله هغه هم ډيره لار نسي وهلاي... "

{۴}

دوهم مهم شئ چي ما د خبرو څخه اخيسته وکړه، هغه دا وه چي دده ستوری تر يوه کور نه وو لوی.دا نو ما ته عجيبه نه ايسبدله، ځکه زه په دې پوهيدم، چي تر لو يو سيارو لکه مځکه، مريخ، زهره، مشتري... چي هره يوه يې خپل نوم لري، په سوو او زرو نوري دا سي سيارې سته چي بعضي يې دونه کوچنۍ دي چي سړی يې په دوربين کی لا په ا سانه نسي ليدلاي. يو منجم چي د دغسي سيارو څخه يوه کشف کړي، نو د دې پر ځاي چي نوم ور باندي کښيږدي، لمبر ورته وټاکی؛ لکه: ۳۲۵۱ لمبر استيروئيد (ستورکئ).



دغه کوچنئ شاهزاده د ۶۱۲ب لمبر ستوري وو. په دې نو ځکه زما ټينګ باور دئ چي دا غسي پاخه دلائل ورته لرم.دغه ستورئ دلمړي ځل دپاره په ۱۹۰۹ کال يوه ترکي منجم په خپل دوربين کي ليدلئ وو او بيا يې د منجمانو په نړيوال کنفرانس کي پر دا خپله موندنه يوه لويه مقاله لوستې وه، خو هغه وخت چا دده پر سورنا غوږ نه وو نيو لئ او نه يې د دې نوي ستوري په هکله خبري په باک راوړې وې.
دی يې نو په دې کړلئ وو، چي په کنفرانس کي يې خپل وطني کالي اغوستي وه. دا نو د لويانو عادت دئ چي د خلګو په کاليو کي يې سترګي وي.
خو دنصيب او قسمت خبري دي، چي په ترکيه کي يوه دکتاتور و واک ته درسيدو سره سم ا مر وکړ چي که بيا څوک په کاليو کي وليدل سو، نو سر يې چټ مال يې ليلام ! پسله دې به هر څوک سمه دمه اروپايي دريشي اغوندي !



دا فرمان د۶۱۲ب ستوري د شهرت دپاره په خير تمام سو. ۱۹۲۰ کال وو، چي دغه منجم بيا هغه کنفرانس ته ورغئ او

خپله مقاله يې هلته بيا ولوسته، بيله دې چې څه کم و زيات پکښې راولي. خو دا وار يې ښه فيشني دريشي اغوستې وه او ساټ وباټ يې پر ځای وو. هغه وو چې د کنفرانس غړو په يوه سلا دده مقاله وستايله، د دې نوي ستوري وکشف ته يې ټولو ګوتې په غاښ کې نيولې وې او آفرينونه يې پر ويل.

زه چې اوس و تاسي ته د دې ۶۱۲ب ستوري پرهسې مازي خواوو څه وايم او دا خو لا څه چې لمبر يې لا درښيم، دا نو يوازې د دې دپاره چې لويان په خوشاله سي. د لويانو شمير او عددو نه ډير خوښ دي. که څوک ودوي ته ووايي، چې زه يو ښه ملګرئ لرم نو دوي به هيڅکله ددې ملګري پر مهمو خواوو پوښتني ونه کړي.دوي به دا ونه پوښتي چې دده ځنګه اواز دئ ؟ کومه لوبه يې تر ټولو خوښه ده؟ دده بوراګاني خوښي دي که نه؟ دوي به ددې پر ځای درڅخه پوښتي چې: دی دڅو کلو دئ؟ څو وروڼه لري؟ دی په ونه څو نه دئ، د پلار يې څونه معاش دئ ؟ پسله دغه ډول پوښتنو ګرويږنو نو دوي فکر کوي چې اوس يې نو په پلار او نيکه لا وپيژندئ.



که چيري سړئ ودوي ته ووايي، چې ما يوه داسي ښايسته کوټه ليدلې ده، چې دپخو خښتو ده او په کړکيو کې يې ګلان دي او پر بام يې هم سپيني کوترې ګرزي... نو ددغسي کوټې په ښايست ددوي سد نه رسيږي.مګر که چا ورته وويل چې ما داسي کوټه ليدلې ده چې يولک فرانکه ارزي، بيا نو ددوي ږغ سي چې: واوا، د بدو سترګو دي په امان وي، و دغي ته نو کوټه وايي !

او يا که دوي ته ووايا ست چې، ددې کوچني شاهزاده دشتوالي لوي دليلونه هم دادي، چې دی ډير خوږ او دګرانښت وړ وو، بل داچې خندل يې، په تيره بيا دا چې پسه يې غوښتئ. نو څوک چې پسه درڅخه غواړي، دا معنا لري چې دی په رښتيا هم موجود وو...، نو دوي به ملنډي درباندي ووهي او په کوچنيانو کی به مو حساب کړي. خو که و دوي ته ووايا ست چې دی د ۶۱۲ ب لمبر ستوري وو، بيا نو د دوي باور کيږي او د نورو پوښتنو څخه به مو پر ارامه پريږدي. دوي نو همدغسي دي، سړئ دي نو د دوي په دغه عادتونو خوا نه بدوي. کوچنيانو ته ښايي چې و لويانو ته پراخ زړه او حوصله ولري.

هو،موږ؛ يعني هغه کسان چې دژوند په ماهيت پوهيږو، پر دغه تشو شميرو او عددو باندي خندا راځي. ما بايد دغه پيښه د نکل په شان پيل کړې واي. دا به پر بې واي چې داسي مې شروع په کړي واي:

چې وو نه وو، يو کوچنئ شاهزاده وو. دې شاهزاده پر يو ستوري ژوند کاوه. دا ستورئ به نو په

غټوا له د غونه وو لکه دی پخپله. دی یو ازي وو او په ملګرو پسي ګرزیدئ.....
هغه خلګ چي د ژوند په راز پوهیږي، دغسي نکلونه د منلو وړ بولي.
زه غواړم چي یوه ورځ زما کتاب ته خلګ په خواره سترګه ونه ګوري. زه چي دا خپل حال چا ته وایم، نو مي زړه ډیر راته نرئ سي. دا شپږ کاله کیږي چي شریک مي د خپل پسه سره راڅخه تللی دئ. زه چي دا د ده پر کړو وړو خبري کوم، دا ددې لپاره کوم، چي دی راڅخه هیر نسي. د شریک هېرول د افسوس خبره ده، او ښه ملګرئ بیا هم هرڅوک نلري. ما هم کولای سوای چي د لویانو غوندي سم چي شمیر او لمبرونه یې ډیرخوښ دي. نو زه هم ولاړم، د رسامۍ د پاره مي قلمان او د رنګونو دبلي رانیول.
زما پر سن او سال نو مازي خبره نه ده چي سړئ دي بیا ورسامۍ ته ملا وتړي. په تیره بیا دا چي سړي دي د شپږ کلنۍ راهیسي بیله د بوا مارانو څخه د بل شي په رسمولو لاس نه وي پوري کړئ. زه خو به د خپل وس سره سم کوښښ وکړم چي د واقعیتونو سره سم رسمونه وکاږم، مګر په ځان پوره باور نه لرم چي دا کار دي وکړای سم. یو رسم مي څه ښه وي، خو بل بیا د ورا ځایه معلومیږي چي و اصل ته ورته نه دئ. زما بیا د اندازو په نیولو کي هم خو ند نسته. یو ځای کوچنئ شاهزاده راڅخه لوی سي، بل ځای بیا ډیررا څخه وړوکئ سي. دده د کالیو رنګ هم اندیښنې را اچوي، خو زه به بیا هم خپل کوښښ پر وکړم. کیدای سي چي حتا پر ډیرو مهمو شیانو دي لا تیروتني راڅخه وسي. خو تر دغسي غلطیو به مي نو راتیر یږئ! شریک مي هیڅ وخت پوره بیانونه نه راته کول. کیدای سي چي ده پر ما د خپل ځان خیال کاوه، مګر زه نسم کولای چي د سوندخ تر تختو دي پسه ووینم. زه چي ربښتیا سي ډیر ولویانو ته سوئ یم او بیله هغه هم د وخت په تیریدو سره زړیږم.

{۵}

ما به هره ورځ دده څخه د سیارې، د سفر او د تګ په باره کي یوه نوې ځني اوریدله. وروسته به مي ښه پر ارامه دده پر خبرو فکر وکئ او یو نوئ مطلب به مي ځني وانګیره. په دغه ډول زه په دریمه ورځ د بائوباب دونو په ناورین ځني خبر سوم، هغه هم د پسه د سر دبرکته ، چي کوچني شاهزاده په خورا وارخطایي راته ویل:
"دا نو ربښتیا دي چي پسه بوټې او نیالګۍ خوري؟"
"هو، ربښتیا دي."
"ښه، اوس مي نو زړه پوره سو !"
زه په دې پوه نه سوم، چي دا نو ولي وده ته دو نه مهمه وه چي پسونه بوټې خوري؛ خو کوچني

شاهزاده پسي زياته کړه چي:
نو د بائوباب* وني به هم خوري !
ما وکوچني شاهزاده ته د بائوباب آنج و بوړی راوايستلي او ورتهومي ويل چي د بائوباب وني هسي بوټي او ښاخلې نه دي چي پسه يې وخوړلاي سي، بلکه د جوماتونو تر منارو لا جګي و ني دي، چي د پيلانو بسته ډلي ورولې، لا به يې په يوه بائوباب زور ونه رسيږي.
دا زما د پيلانو مثال دی وخنداوه، ويل:
"سرې به نو دوي سر پر سر سره دروي..."
خو بيا يې په هوښياري سره دا رموز راورساوه:
"دبائوباب وني هم اول کوچنۍ وي، وروسته وروسته دونه غټي سي !"
"دا خو ټيک ده، مګر ته ولی وايې چي ستا پسه دي هرومرو دبائوباب کوچنۍ وني وخوري؟"

---

* بائوباب يوه ونه ده چي په افريقا او استراليا کي وده کوي، ويل کيږي چي تنه يې ترشلو مترو پوري رسيږي او تر څلورو زرو کلونو پوري پايي. (ژباړونکی).

ده په داسي ډول راغبرګه کړه، لکه ترلمر چي لا روښانه خبره وي، ويل:
"ښه سمه ده ، ګورو به ئې !"



ما خپل ټوله عقل او فکر په کار واچاوه، چي موضوع د ريښي څخه ځانته روښانه کم.خبره خو دا وه چي د دې کوچني شاهزاده پر سياره لکه د ا نورو سيارو په شان هم ښه بوټي وه او هم بد. خو د بده مرغه چي د تخمونو ذات په ستر ګو نه ليدل کيږي. دوي هلته په مځکه کي غلي بيده وي، تر څو چي يو د دوی څخه راويښ سي، سره وغزيږي او داسي کرار کرار، لکه شرميږي چي، دلمر وخواته يو کوچنئ او په زړه پوري نيښ وبا سي. دغه وارد واره يو بې ازاره نيښ وي. که چا د تربچه يا دګلاب خيال پر وکړ، نو يې خپلي ودي ته پريږدي، هغسي چي دده زړه غواړي. اما که هرزه بوټئ وو، نو يې سرئ ځاي پرځاي چاره کوي او دبيخه يې باسي؛ يعني هغه دم چي د چا شک په ورسيږي.

د کوچني شاهزاده پر ستوري کرکجن تخمونه وه... او هغه بيا هم د بائو باب تخم ،چي دده ټوله سياره يې اخيستې وه.بائوباب بيا داسي شئ دئ، چي که يې چا اول سر چاره ونه کړه، بيا دي نو دځان حال ګوري ! دده پر ټوله سياره لاس بر سي او خپلي جرړي تروباسي. که چيري سياره کوچنۍ وه او بائوباب پر ډير سول، نو يې سره چوي.



وروسته کوچني شاهزاده راته وويل " دا نو په نظم اړه لري." او ويل يې:
"سړئ چي سهار وختي خپل تشناب وکړي نو سمدستي دي په پوره پاملرني سره د پټي د مخ غم هم وخوري. يعني سړئ بايد دا د ځان عادت وګرزوي چي هر سهار په پټي کي، مازي چي په پوه سي، چي دا د بائوباب بوټۍ دئ، نه د ګلانو ، نو ځاي پر ځاي دې دبيخه کاږي. د بائوبابو او ګلانو نيښونه(جوانې ) تر څو چي دوي لا کوچني وي، ډ ير سره ورته وي. که څه هم دغه کار يو څه نفس تنګي لري ، خو اسانه کاردئ."

يوه ورځ ده په ضمن کي دا راتيره کړه چي د يوه ښايسته انځور په تکل کي سه، چي هلته زما د ملک د کوچنيانو پر مغزو يوڅه تأثير وکړي او داسي يې ويل:
" که دوي يوه ورځ په سفرتله ، په ښه به يې ورسی. کله ناکله کيداي سي چي سړئ دنن کارسباته پريږدي، مګر که چاد بائوباب کار وځنډاوه نو ناورين ته دې ځان ټينګوي. زه يوه ورځ پر يوه داسي سياره پيښ وم، چي يوه لټ او تيارخوره ژوند پرکاوه، د بائوباب درې بوټو ته يې پام نه وو سوئ... "
نو زه هم راولاړ سوم او د دغي سيارې انځور مي هغسي وکيښ چي کوچني شاهزاده راته ويلي

وه.که څه هم زما د شیخانو خبري نه دي خوښې اودبلي خوا د بائوباب څخه بیره هم داسي د عالمه وتلې نه وه؛ خو د هغو خطرونو په وجه چي وهر هغه چا ته ګوري، چي پر یوه سیاره یې لار غلطه کړې وي، ځانته لازم وبلل چي دا یو وار خپله نرمه ورڅ پرېږدم. نو مي په غټو تورو ور ته کښل چي:



هلکو پام کوي !بائوباب دئ !

د دې د پاره چي د خپلو ملګرو پام و هغو پټو خطرو ته ور واړوم، چي ما او دوي ته ګوري، نو مي پر دغه انځور ښه ډیر کار وکړ. هغه درس چي زه يې په دغه ډول ورکوم، په خواریو یې هرومرو ارزي. کیدای سي چي تا سي ته پوښتنه پیدا سي چي دا کتاب ولي نور داسي وتلي انځورونه نه لري لکه د دې بائوباب؟ جواب یې ډیر ساده دئ، ما ددې کار د پاره خپل کوښښ وکړ، خووس مي نه په ورسیدئ. اما دا د بائوباب وني چي مي رسمولې، نو د موضوع د ډیر اهمیت په خاطر مي زړه ورسره په هوا وو.



{۶}

اخ، کوچنۍ شاهزاده، زه ورو سته ورو سته ستا په دې کوچني او پریشانه ژوند پوه سوم. تا نو ددې دپاره چي فکر دي په بله کړې، بل څه نه درلودل، بیله دې چي وخت دي دلمرلویدو په مینه تیر کړې.

زه دڅلرمي ورځي په سهار درپوه سوم، چي تا راته ویل:

" زه پر لمر لوېدو مین یم، درځه چي سیل یې وکړو... "

" تر هغو به وګورو... "

" تر څه پوري وګورو ؟"

" تر هغو چي لمر لویږي !"

ته اول یو څه هیښ پاته سوې، ورو سته پر خپل ځان خندا درغله او وماته دي ویل:

" زه هره پلا داسي فکر کوم، لکه په خپل کور کي چي یم ! "

خبره داسي ده؛ په امریکا کي چي غرمه وي، نو لکه هرڅوک چي پوهیږي، په فرانسه کي لمرلویږي. نوکه په امریکا کي دغرمې پر مهال دچا دلمرلوېدو سیل ته زړه وغواړي، نو دې په یوه دقیقه کي ځان وفرانسې ته رسوي. خو پر دې خاورینه مځکه امریکا چیري او فرنسه چیري ده. ستا پر دې کوچني ستوري دغونه درته بس دي چي دخپلي چوکۍ سره یو لږ څه مخ ته ور وسکیږې نو بل غروب به پسي ووینې، هره پلا چي دي چوکي ور وړا ندي کوې، لمرلویده به وینې، پرله پسې دونه ډیر چي ارمان دي په خیژي....

" هو، په یوه ورځ مي دروڅلویښت واره لمر لویده ولیدل ! "

او لږ څه ورو سته دي پسي وویل چي:

" ته هم پوهیږې، چي دچا زړه ورته ډک وي، نو یې لمرلویدو ته هوا کیږي."

"ښه، نو د دغه دروغلو ییښت واره لمرلویدو د سیل په ورځ دي ډیر زړه درته ډک وو؟ "
مګر کوچني شاهزاده جواب را نه کړ.

{۷}

بیا همدغه پسه وو ، چي په پنځمه ورځ یې د کوچني شاهزاده د رازپه رو ښانه کو لو کي مرسته راسره کوله. کوچني شاهزاده بیله دې چي خبره یوې یا بلي خواته ځني ولاړه سي،او داسي لکه تر لمر چي لا روښانه خبره وي،را څخه وپوښتل:
"پسه چي بوټي خوري، نو خود به ګلان هم خوري ! "
"د پسه چي هرڅه خولې ته ورسي، نې نه وايي"
"که ګلانو اغزي درلودل هم یې خوري؟ "
"رښتیا ، دا ګلان ولی اغزي کوي؟ "
زه نه پوهیدم چي څه ورته ووایم. پر دغه وخت د خپل انجن د یوه سخت پیچ په خلاصولو اخته وم ، بل دا چي زه هم خپل غم اخیستئ وم، پدې چي دا زما واکیه هم خطرناکه راته ایسېدله ، ډیري وسوسې په زړه کي را لویدلې،د بلي خوا مي د اوبو زیرمه هم اوس نو پر تمامیدو وه.
"وایم، دا زوزان په څه درد خوري؟ "
کوچني شاهزاده چي به یو وار پوښتنه وکړه بیا به یې نه پسي پریښوده. زه هم دانجن په پېچ سخت اخته وم، نو مي دځانه ورته وویل چي:
"اغزي پخپله د هیڅ ښې نه دي، ګلان یې هسي د بدنیتۍ کوي."
ده "اوه" کړه، اول یو څه چپ سو ، خو وروسته یې په خورا درد ملامتي راواړوله اوراته ویل یې:
"دا دي نه منم ! ګلان ډیر نرم طبیعته او بي ازاره دي، دوي په هر ډول چي وکولاي سي خپل ځانونه ساتي. دوي هسي فکر کوي چي ګوندي داغزیو په مرسته به نو خطرناکه سي..."
ما هیڅ نه ورته وویل؛ او په دغه ترڅ کي مي د ځان سره ویل چي که دې پېچ نوره سرسختی کوله، نوبله چاره نسته، د چکښ په زور به یې خلاصوم.
کوچنئ شاهزاده بیا په فکرو کي را ګډ سو ، ویل یې:
او ته وایي چي دا ګلان نو... "
"نه، نه، زه دا نه وایم، هغه ما هسي درته ویل. ته مي هم وینې چي زه تر دې په مهمو شیانو اخته یم ! "
ده بد بد راته وکتل او ویې ویل:
"په مهمو شیانو ! "

ده راته کتل چي زما چکبش په لاس کي، په ګريسو مي لاسونه او کالي ککړ وه، او پر يو شي ور کوږ وم چي دده تر سترګو خورا بد ايسيدئ.ويل:
" ستا څخه هم داسي خبري کيږي لکه دلويانو !"
زه يې دې خبري وشرمولم خو ده په بي رحمۍ سره پسي زياته کړه چي:
" ته هم پر هر شي خطاوزې، ټوله خبري درڅخه ګډي وډي سي."
دی په رښتيا هم چي ډير پاربدلئ وو.

خپل طلايي وريښتان يې و باد ته پورته پورته غورځول او دغه يې راته ويل:
" زه يوه سياره پيژنم چي يوه تک سره ښاغلي پر اړولي دي. دده په خپل ژوند د ګل بوی نه دئ تر سږمو سوي، په خپل ژوند يې هم يوه ستوري ته ندي کتلي.په خپل ژوند څوک نه دئ وربانـدي ګران سوئ. ده په خپل ژوند کي بيله ټولو لو او جمع کولو بل څه نه دي زده کړي.دئ هم لکه ته، دغه دځان سره په وارو وارو وايې چي زه خو يو جدي سړي يم، زه خو يو جدي سړئ يم ! دئ دډيره آره پړسيدلی دئ. اما دغه شئ انسان نه دی، بلکه يو اسفنج دئ."



" يو څه شئ دئ ؟ "
"اسفنج دئ"
د کوچني شاهزاده اوس نو د ډيره خروښه ښه الوتې وه او ويل يې:
" په مليونو کلونه کيږي چي ګلونه اغزي لري، په مليونو کلو نه کيږي چي پسونه سره ددې هم ګلونه خوري. او ته دا دونه مهمه نه بولې، چي سړئ دي په د غه پوه سي،چي که ا غزي هسي خوشي شيان وي، نو ولي ګلان و ځان ته دو نه تکليف ورکوي چي ا غزي و کړي؟ د غه د پسو مبارزه دي دګلانو سره هيڅ مهمه نه وي؟ ددغه پنډ اوتک سره تر ټولولو او جمع کو لو دي لا د پام وړ نه وي؟ او دا زه چي يو ګل پيژنم چي پر ټوله نړۍ يوازنئ ګل دئ، بيله زما پر کوچنۍ سياره بل هيڅ ځاي هم نسته، نو که يو کوچنئ پسه بيله دې چي په پوه سي چي څه کوي، په يوه

کپ دغه ګل د مينځه يوسي، دا دي نو هيڅ مهمه نه وي؟ !“
دی د ډېره خښمه سره سور او شين سو او ويل يې:
”که چا ديوه داسي ګل سره مينه درلوده چي پر مليونو مليونو ستورو يوازنۍ ګل وي او د دې د پاره چي دی خپله نيکمرغي احساس کړي، نو دغونه کفايت ورته کوي چي يو وار لوړ و اسمان ته وګوري او د ځان سره وو ايي: زما ګل هلته لوړ دئ، يو ځاي لانه يو ځاي... خو که پسه دغه ګل تر ځان جار کړ، نو ده ته داسي معنا لري، لکه دا ټوله ستوري چي په يوه پلا ولو يږي ! او دا دي نو هيڅ مهمه نه وي؟“
دی نور د خبرو ولو ېدئ، بړينګ په ژړا سو.
شپه را ماته سوې وه،ما د خپل کار ابزار سره راټول کړل. چکښ، پيچ، تنده او د مرګ بيره، دا ټوله مي د پامه ولويدل.دغه راته مهمه سوه چي پر يوه ستوري، يوې سيارې،دغه زما پر سياره يعني دلته پر مځکه ، يو کوچنۍ شاهزاده دلا سا کړم ! دی مي په غيږ کي واخيستي، ومي ځنګاوه او په پُسهاري مي ورته وويل:
” هغه ګل چي ستا خوښ دئ، هيڅ نه ور پيښيږي. زه به دا ستا پسه ته يو اوربوز ور رسم کړم.... زه به دي ګل ته يوه کټاره ور رسم کړم... زه به ... “ نورنه پوهيدم چي څه ورته ووايم، ځان ډير غير ماهر راته ايسېدئ. زه نه پوهيدم چي دی څنګه دلاسا کړم، څنګه دده د خيالونو دنيا ته ځان ورسوم. ډيره د رازه ډکه ده، دغه د اوښکو نړۍ !.

{۸}
اوس يې نو وخت وو ، چي دغه ګل مي ښه سم پيژندلئ واى. ګلان د کوچني شاهزاده پر سياره سر و کال وه. دغه به نومازي په وښو کي يوه ګردى ګيډۍ وه چي د شګوفو د پاڼو څخه به جوړه سوې وه. دوي دونه شيان نه وه او نه يې چا ته سرخوږی پيښوئ. دوي به سهار هلته په وښو کي وو ځليدل، ماښام به ورک سول. خو يوه ورځ د دوي څخه يوه ريښه کړې وه؛ د يوه تخم څخه. دا نو خداي خبر چي د کومه يې کړئ وو. کوچني شاهزاده يې نيښ، چي ونورو ته هيڅ ورته نه وو ، ښه څارۍ. کيداي سواي چي دغه بيا يو بل ډول بائوباب واي. خو دې بوټی ژر خپله وده پرې ايښې وه او پر غوټۍ راغلئ وو. د کوچني شاهزاده چي د دې غټې غوټۍ وده ښه تر سترګو لاندي وه، دغه يې د ځان سره ويل چي د دې څخه به هم يو ښه شئ جوړ سي. خود غوټۍ سينګار لا په خپله شنه خونه کي هيڅ نه تمامېدئ.خپل رنګونه يې په غور سره خوښول او کرار کرار يې خپل کالي اغوستل او خپلي پاڼي يې يو په بل پسي خوښولې. دې پر ځان ښه پام کاوه چي د غوړيدو پر مهال يې پاڼي داسي ګونجی ګونجی نه وي، لکه د کوکنارو د ګل.پر ځان يې تلوار نه کاوه او تر څو چي په پسول او ګېڼو پوره نه وي ښايسته سوې، نه راوتله.ددې د رازه ډک

سینګار ورځي ورځي وهلی وې تر څو چي یوه ورځ سهار وختي تیک دلمرختو پرمهال یې دمخ څخه پوړنۍ ایسته کړۍ وو ، او سره ددې چي دا ټوله وخت پرخپل ځان ښه ګرز بدلې هم وه، په اررمۍ یې ویل:

”اوه،زه لا د خوبه یم....بخښنه دي وي... سر مي لا داسي ببر دئ ... “

پر دغه وخت نو کوچني شاهزاده هم دخپل زړه حال نسواي ځني پټولاي،ویل:

”دا څنګه ښایسته یې ! "

ګل په نرمي سره ورغبرګه کړه چي: ”که نه؟... زه هم اوس دلمر سره یوځاي پیدا سوم... “

د کوچني شاهزاده هم په فکر کي وګرزېدل چي دا ګل کیمینه نه را ته ښکاري، خو ډیرتأثیري دئ.

دی لا په دې فکر کي وو ، چي ګل بیا ناز پر وکړ:

”زما په خیال چي اوس نو دناری وخت دئ“ او ددې سره سم یې ورته وویل:



”دونه ځوان یې، چي زما غم هم درسره وخورې؟ !“

کوچنۍ شاهزاده چي ډیرحیرت ورته وړۍ وو، ولاړی ژر یې د تازه اوبو اوپاش راوړ او ګل یې په اوبه کړ.ډیر وخت لا نه وو تیر سوی، چي ګل په خپلو غټو خبرو د کوچني شاهزاده په زوکلولو پیل وکړ. مثلاً، یوه ورځ چي یې د خپلو څلورو اغزیو خبري را پورته کړې، نو وکوچني شاهزاده ته نه وړي نه راوړي، وایي:” اوس یې نو ددې پړانګانو د خپلو تیزو نوکانو سره لاس خلاص !“

کوچني شاهزاده د ګیلې په ډول ورته وویل چي:

”یو خو زما پر ستوري پړانګان نسته، بل هم دا چي پړانګان واښه نه خوري.“

ګل بیا یوڅه په نرمه وویل چي:

”زه هم واښه نه یم.“

شاهزاده وویل: ”وبخښه...“



”زه د پړانګانو څخه نه بیریږم، خو د باده څخه مي ډیره کرکه

کيږي؛ يوه تخته نه لرئ چي د باد مخ په ونيسې ؟"
کوچني شاهزاده ويل:
"د باد څخه دي کرکه کيږي ... ؟"
وروسته يې دځان سره ويل:

دا نو دشنو ګياوو دپاره ښه زيرئ نه بولم. او دا ګل بيا بيخي نازک طبيعته دئ...
"ماښام به پرما يوه مرتبانه ايږدئ، ستاسي کره ډير يخ دئ، سم مو غم ندئ خوړل سوئ. د هغه ځايه چي زه راغلئ يم..."



ګل ځاي پر ځاي خپله خبره پرې کړه. ځکه دی دتخم يوه دانه وو، چي دې سيارې ته راغلئ وو.

تر دې مهاله د دنيا ناخبره وو. ګل چي پرخپلو دروغو ګورئ مورئ ونيول سو، نو دشرمه بله پر دربدلې وه، په ټوخي يې ځان تيراوه، چي پر کوچني شاهزاده ملامتي ورواړوي.
"هغه تخته مو څنګه سوه... ؟"
"ما هم اوس راوړله، خو تاسي په خبرو اخته کړم !"
ګل بيا پر ستوني زورکړ، چي په خپل ټوخي دی و زوکلوي.



نو دکوچني شاهزاده هم پرخپل ګرانښت او ښه نيته سربيره د هغه اوله سره لا پر ګل زړه غير سوئ وو، او دګل ايله او بې مانا خبري يې بې حده ټينګي نيولي وې او ډير په زهيرسوئ وو.
يوه ورځ يې وماته تر خولې ووتل چي:
"ما بايد دده پر خبرو غوږ نه نيولاي. سړئ دي دګلانو يوازي سيل کوي او بويوي دې. زما ګل دا ټوله سياره را خوشبويه کوله، خو زه نه پوهېدم چي څنګه خوند ځني واخلم. دا د پړانګانو د نوکانو خبرو يې بايد پر ما تأثير کړی واي او زړه يې را نرم کړئ واي."

ده دغه راز لا هم راسره شریک کئ چي:
"زه هغه وخت نه پوهیدم ! ما باید دده عمل ته کتلاي، نه يې خبرو ته.دی راته ځلېدئ او په خپل ښه بدی يې زما روح تازه کاوه.زه باید نه واي ځني تښتېدلئ. دا یوڅوساده ناخبرې‌مي پر ځان نه ډېرولاي، یوازي مې بوی او ښایست ته کتلاي.ګلان نو هر وخت دغسي دوه مخي لري. خو زه هغه وخت لا ډېر کوچنئ وم، چي په قدر يې پوه سم.



{۹}

زما په خیال چي دی دخپلي تېښتي پر وخت د وحشي مرغیو دسېل سره تللئ وو. ددغې ورځې په سهار چي ده پر کډه لرګی ایښووئ، خپله سیاره يې ښه سره ورټوله او جارو کړه او په ډېر احتیاط يې هغه دوه ژوندي اورغورځونکي غرونه هم جارو کړل. ده دوه ژوندي اورغورځونکي غرونه درلوده، چي د سهار د ناري او چاي پخولو دپاره په کار ورتله.یو يې هم مړ اورغورځونکئ غر درلود. دځان سره يې ویل ، چي نه ویل کیږي، دخدای ښې او بدي دي، چي څه پېښه نسي. نو يې هغه مړ آتشفشان هم جاروکئ. ددغو غرونوکه سم غم وخوړل سي او جارو سي، نو سم یولاس اونرم نرم بلیږي، سر نه اخلي. هلته چي يو ددغو اور غور ځونکو غرونو څخه یو سر واخلي، نو اور يې ددې ځاي تر دېوالي بخاری نه ډېرېږي. څرنګه چي موږ پر دي خپله مځکه ډېر کوچني یو او د اورغورځونکو غرو په جاروکولو مو وس نه رسیږي؛ نو خود مو ژوند ورسره په دارد ئ.
کوچني شاهزاده په خواشینۍ د بائوباب يو څو بوټې له بیخه وکښل. ده دا نه ګڼله چي یوو خت دي دلته بیرته راسي.خو دا یو څو ورځني کارونو نن و ده ته بل ډول ښه خوندور کاوه. خو هغه وخت چي ګل يې د ورو ستي ځل دپاره اوبه کئ او مرتبا نه يې راوړله، نو د ارما نه ژړا ورته وردیدله. وګل ته يې ویل چي:
"ګله دخداي په امان !"
خو ګل هیڅ جواب ورنه کئ.
بیا يې بېغ پر وکئ چي:
"وایم، دخدای په امان ! "

ګل غاړه تازه کړه، خو دا وارد زکامه نه. او ورته یې ویل:
"ما ته حق را پل که، زه هغه وخت نه پوهیدم. کوښښ کوه چې ځان دي خوشاله وساتې"



کوچني شاهزاده چې دا وار د ګل بې ایراده خبري واوریدې، نو په دا سي حال کي چې هغه مرتبانه یې هم په لاس کي وه هک پک ورته ولاړ ئ، دی د ګل په دې نرم وضعیت هیڅ پوه نسو.
ګل پسي ورته وویل:
" هو، ته رابا ندي ګران یې. ته په دې نه پوهېدې. دا زما ګناه ده. خیر، دونه مهمه نه ده. چې رښتیا سي، ته هم داسي پخ وې لکه زه. کوښښ کوه چې ځان دي خو شاله وساتې... دا مرتبانه پریږده، سر مه په ګرزوه؛ زما نور نه ده په کار... "
" نو دا باد ... ؟ "
" زه هم دونه سخت زکام نه یم ، د شپې شمال به ښه رابا ندي ولګیږي. زه هم ګل یم.. "
" او دا حیوانان... ؟ "
" نو ښایسته بوراګاني چې غواړم، د دې دوو دروو چینجیانو زور به خود وړم. وایي د دوي سره هم د سړي سات تیریږي. بل به نو څوک زما احوال ونیسي؟ ته به هلته لیري په بل ولات کي یې. پاته دا غټ حیوانان سول، د هغو څخه بیره په زړه کي نه رالویږي. خپلي منګولي لرم ! "
ګل وروسته خپل حال ورسره شریک کئ او هغه خپل څلور اغزي یې ورښکاره کړل، بیا یې نو ورته وویل: " تا چې د تګ په ټینګه نیت کړیدئ، نو ورځه، مه یې راباندي اوږدوه، چې خواشیني لري ! "
څرنګه چې دغه یو د آره ډک ګل وو، نه یې غوښتل چې دی یې ژړا ووینې.

دی د۳۲۵، ۳۲۶ ، ۳۲۷ ، ۳۲۸ ، ۳۲۹ او ۳۳۰ ستورو په سیمه کي وو. ود غو ستورو ته یې په دې خاطر سفرونه پیل کړل، چي ځان بوخت کړي او بل هم داچي یوڅه زده کړي.
پر دې لومړي ستوري یو پاچا اوسیدئ. دې پاچا د سره بخمل او د قاقُم دپوستکي چوخه اغوستې وه او پر یو څه ساده خو شاهانه تخت باندي ناست وو.
دې پاچا چي کوچنئ شاهزاده ولیدئ، نو یې دړغ سو چي:
"ها ، هغه دئ رعیت مي !"
کوچني شاهزاده د ځان سره ویل، چي دی نو ما دکومي خوا پیژني، ده خو زه تر اوسه لیدلئ لا هم نه وم. دی په دې لا نه پوهېدئ چي د پاچهانو په خیال دا نړۍ بیخي ساده شئ ده،هغه داچي، هر څوک ددوي رعیت وي.
پاچا ورته وویل: "را نږدې سه چي سم دي ووینم !"
د دې پاچا نو غاړه جگه وه، چي اوس نو یو پیدا سو چي دی خپله پاچاهي پر وکړي.
کوچني شاهزاده دناستي په ځاي پسي کتل، خو ټوله سیاره دپاچا چوخې اخیستې وه. نو دناچارۍ څخه ودریدئ او ځرنگه چي ستړئ ستومانه وو ، نو اررمۍ ور ته ودریدله.پا چا ورته ویل:
"دا د شاهي تشریفاتو سره ډیره مخالفه ده چي څوک د پاچا په حضور کي اررمۍ وکاږي. بیا به اررمۍ نه راته کاږې ! "
کوچنئ شاهزاده سره ننوتئ، ویل یې:
" خو نه یې سم درولاي.ما اوږده لار وهلې ده، تر اوسه مي سترگه لا نه ده پټه کړې."
پاچاچي دا واوریدل نو یې وویل:
" نو پر تا امر کوم چي اررمۍ وکاږه. دا کلونه کیږي چي څوک مي پر اررمۍ نه دئ لیدلئ. اررمۍ وماته بیخي نادره شئ ده، ژر سه بیا اررمۍ وکاږه ! دا زما امر دئ !"
د کوچني شاهزاده مخ تک سور سو او په کنگوړه ژبه یې ورته ویل:
" دې امر دي وبیرولم، نې سم کښلاي... "

پاچا هه هه کړل ، ویل:
" نو زه بیا امر درباندي کوم چي... اررمۍ دي ژر وکاږه، وایم ژر ! "

د پاچا یو څه بوڼهاری وواو قهرجن معلومیدئ، و ده ته دا ډیره مهمه وه، چي واکمني یې پر سر او سترګو ومنل سي. ده هیڅ یاغي او باغي نسواي زغملای. دده مطلقه پاچهي وه. خو څرنګه چي دی یو خیرخواه پاچا وو، نو پر عقل برابر امرونه یې کول.
ده به په خپلو خبرو کي داسي ویل، "که زه وغواړم... ؛فرض یې که زه د یوه جنرال څخه وغواړم چي راته تیپوس سي، او دغه جنرال زما وا مر ته غاړه کښېږدي، نو دا به ددې جنرال ګناه نه بلکه زماګناه وي."
کوچني شاهزاده په ماته خوله ورته وویل: "اجازه ده چي کښېنم ؟"
پاچا ورته وویل: "زه پرتا امر کوم چي کښېنه !" او ددې سره یې سم یې دخپلې بخملي چوخې یوې څوکي ته لاس ور وغزاوه او په شاهانه ډول یې ورټوله کړه.
کوچنئ شاهزاده پدې چورت کي وو، چي دا سیاره خو دونه کوچنۍ ده، نو دی دلته پر چا باندي خپل امر چلوي؟ نو یې پاچا ته وویل: "باداره ... زما سر دي په امان وي، یوه پوښتنه مي در څخه کوله... "
پاچاهم په تلوار ورته وویل: "زه پر تا امر کوم چي پوښتنه دي را څخه وکړې ! "
"صاحبه... تاسي پر څشي باندي حکومت کوي؟ "
پاچا لنډه ورته راوګرزول چي: "پر هرشي ! "
بیا یې و خپلې سیارې او دا نورو لویو او کوچنیو ستورو ته خورا د معنا ډکه اشاره وکړه.
کوچني شاهزاده ورته ویل: "پردغو ټولو ؟ "
پاچا ورته ویل: "هو، پر دغو ټولو... "
دا ځکه چي ده نه یوازي خپله مطلقه پاچهي کوله، بلکه داسي پا چا یې ځان باله چي پر نورو لویو او کوچنیو ستورو یې هم امر چلیدئ.
"نو دا ستوري هم ستاسي اطاعت کوي؟ "
پاچا ویل: "پدې کي خو شک نسته، دوي ټوله دامر تابع دي. زه یاغیان نسم زغملای."
کوچنئ شاهزاده د پاچاودې دونه پراخي واکمنۍ ته اریان سو. دځان سره یې و یل، که ما دونه واک درلودای، نو به مي په یوه ورځ نه یوازي دروڅلویښت واره بلکه دو او یا، یا سل او حتا دوه سوه واره دلمرلویدو سیل کړئ وای او هغه هم بیله دې چي خپله چوکۍ پسې ور وسکوم.



پر دې وخت نو پر خپله پردیسي او خپل کوچني ستوري پر پریښوولو یو څه ارمان ورته ودربدئ، نو یې

زړه راغوندکئ او پر پاچا یې یو ناز وکئ، ویل:
"زما و لمر لویدو ته هوا کیږي.. زما د زړه دپاره خو یو وار پر لمر امر وکړی چي ولویږي..."
پاچا ورته ویل:
"که د یوه جنرال څخه و غواړم چي لکه بوراګاني دیوه ګل څخه دي بل ته والوزي، یادي یوه غمیزه راته ولیکي او یادي راته تپوس سي، او دغه جنرال زما امر پر ځاي نه کړي، نو ته وو ایه چي څوک به ګرم وي، دی او که زه؟"
کوچني شاهزاده په پوره ډاډ سره ورته وویل:
"تاسي به ګرم یاست."
پاچا ورته وویل:
"هو، سم دي وویل. سړئ باید دهر چا څخه دهغه د وس په اندازه غوښتنه وکړي." او پسي ویې ویل چي:
"واکمني تر هرڅه دمخه پر هوښیاري ولاړه ده. که ته پر خپلو خلګو امر وکړې، چي ورځئ ځان له ځانونه دریاب ته واچوئ، نو دوي به په بلوا لاس پوري کړي. زه دا حق لرم چي د خلګو څخه اطاعت وغواړم، داځکه چي زما امرونه پر عقل برابر دي."
د کوچني شاهزاده چي هیڅکله خپله پوښتنه نه هیربدله، نو یې پاچا ته بیا وریاده کړه چي: "ښه نو، هغه زما لمرلویده څنګه سوه؟"
"ته دي خپل لمرلویده راڅخه وغواړه، زه به امر پر وکم، خو زما دواکمنۍ د حکمت سره به سم تر هغو وګورم، چي شرائط مساعد سي."
کوچني شاهزاده ځني وپوښتل چي:
"دا به کله سره ورسیږي؟"
په داسي حال کي چي پاچا خپله جنتري سره اړوله، نو یې ورته وویل:
"هم، هه...پر...پر... دا به نن ماښام پوره پراوه بجې او څلویښت دقیقې وي. بیا به نو ته ګورې چي څنګه زما امر پر سر او سترګو منل کیږي."
کوچني شاهزاده ته اررمۍ ودربدله یولږ څه دیغ سو، او پر ځني تیر سوي لمرلو یدو یې ارمان وکئ. بیا یې پاچا ته وویل:
"ښه، زما نو دلته نور څه نه دي پاته، زه پرخپله تړه ځم!"
پاچا چي په دې تبعه خوشالي کوله، نو یې امر پر وکړ چي:
"یه، ته به نه ځې، زه به تا وزیر کم."
"د څشي وزیر؟"
"د ..... د عدلیې وزیر!"

"نو دلته خو څوک نسته چې پریکړې مې پر کړې واي."
پاچا ویل:
"دا سړئ نسې ویلای، زه لا تر اوسه په دوره نه یم وتلئ، زه نو هم اوس سپین ږیرئ سوم، په تګ ژر ستړئ کیږم. د موټړ د پاره بیا ځای نلرم."
کوچنئ شاهزاده ورکوږ سو، د سیارې وهغې بلې خواته یې نظر واچاوه، بیا یې پاچاته وویل:
"اوه، ما د سیارې هغه بله خوا هم ولیدله، هلته هم څوک نه لیدل کیږي. "
پاچا ورته ویل:
"نو پر خپل ځان به پریکړې او قضاوت کوې! دا تر هرڅه سخت کار دئ. پر خپل ځان قضاوت کول نظر ود بېته چې سړئ پر نورو قضاوت او پریکړې وکړي، ډیر زور غواړي. که تا وکولای سواې چې خپل ځان پخپله محاکمه کړې، نو په رښتیا چې پوه یې."
کوچني شاهزاده ورته ویل:
"زه هر ځاې چې یم، هلته خپل ځان پخپله محاکمه کولاې سم. ددې کار د پاره خو حتمي نه ده چې زه دلته پاته سم."
پاچا هم،هم کړه،او ویې ویل:
"زما په خیال چې دلته زما پر سیاره، یو ځاې لانه یوځاې یوه مږه ده. زه یې د شپې کړپئ اودرزئ اورم. ته به پر دغه مږه قاضي سې. کله ناکله به پر دې د اعدام حکم کوې او پدې ډول به ددې ژوند ستا په عدلې پریکړو تړلئ وي.خو ته به یې هره پلا بخښې، چې د بل وار د پاره مږه در پاته سي.دلته خو دغه یوه مږه ده."
کوچني شاهزاده ورته ویل:
"زما د اعدام دحکمونو څخه کرکه کیږي، اوس نو زما په خیال باید چې ولاړ سم."
پاچا ویل: یه، نه به ځې !
کوچني شاهزاده چې اوس نو ټینګ نیت کړئ وو، خو نه یې غوښتل چې دغه سپین ږیرئ ټولواک خوابدئ کړي، نو یې داسې ورته وویل:
"که د اعلیحضرت حضور د خپل رعیت څخه پر خپل وخت او زمان اطاعت غواړي، نو پر مادې یو معقول امر وکړي؛ تاسې دمثال په توګه پر ما امر کولای سئ چې په یوه دقیقه کې ستاسې دمخه ورک سم. ماته داسې ښکاري چې اوس نو ودې امر ته شرائط ډیر مساعد سوي دي... "
څرنګه چې هیڅ جواب ورنه کړل سو، نو کوچني شاهزاده اول څه صبر وکړ،وروسته په یوه سړه اسوېلی، ځني رهي سو.
پر دې وخت پاچا پسې ږغ کړه چې:

"زه تا خپل سفیر ټاکم." او غوښتل یې چې پدې ډول خپله دبدبه ښکاره کړي.
کوچني شاهزاده پر لار دځان سره ویل چې دا لویان هم عجیب وغریب خلګ دي.

{۱۱}



پر دې دوهمه سیاره یوه خانتما سړي اړولي وه.
دې خانتما او باټک چې کوچنۍ شاهزاده دليري ولیدئ، نو یې ناري سوي:
"واوا، واوا، هغه دئ، یو څوک راغي چي ګوته په غاښ کي راته ونیسي."
دا په دې خاطر چي دباټکانو په ګمان خلګ یوازي ددوي ستایونکي وي.
کوچني شاهزاده ورته ویل:
"سلام علیکم؛ دا مو عجبه ټوپۍ پرسر ده."
باټک ورته ویل: "دا د سلامۍ دپاره ده، د سلامۍ! "
"زما لیدو ته چي خلګ راوتلي وي او چک چکي راته کوي نو زه دا خپله ټوپۍ دسره ورته کښته کوم.خو د بده مرغه چي دلته هیڅوک نه راځي."
کوچنۍ شاهزاده په دې خبره پوه نه سو.
خو دده دپاره یې ویل: "ښه، داسي"
وروسته باټک ورته ویل:" ته دي لاسونه سره وټکوه."
ده چي لاسونه سره وټکول، باټک ټوپۍ دتعظیم پر ډول د سره ورته پورته کړه.
کوچني شاهزاده دځان سره ویل چي تر هغه پاچا خو دده سره د سړي سات تیریږي.
ده چي بیا لاسونه سره وټکول، باټک بیا خپله ټوپۍ دسره ورته پورته کړه.
لږ ګړۍ وروسته چي کوچني



شاهزاده ته دغه لوبه تکرار سوه او نور یې خوند نه ورکاوه، نو یې ورته وویل:
"که سرئ وغواړي چي دا خولۍ دي دسره لاندي ولویږي، نو څه باد وکړي ؟"
پر دې پوښتنه یې غوږونه کاڼه واچول، باتک یوازي خپله ستاینه اوري.
خو د کوچني شاهزاده څخه یې پوښتنه وکړه چي: "ته په ربښتیا ماته حیران تللئ یې؟"
"حیران تلل، دا یعني څه ؟"
"ماته حیران تلل یا تعجب کول دا معنا لري، چي ځوک دا ومني چي زه تر هرچا تکړه یم، کالي مي تر هرچا ښایسته دي او پر دا ټوله سیاره تر ما شتمن او هوښیار سړئ نسته."
کوچني شاهزاده ورته ویل: "نو ته خو پر دې خپله سیاره یوازي یې !"
باتک ورته ویل: "پروا نلري، زما د زړه د پاره خو یو وار حیران راته ولاړ سه !"
کوچني شاهزاده ورته ویل: "سمه ده، زه حیران درته تللئ یم."
ورسته یې سر وښوراوه او د باتک څخه یې پوښتنه وکړه چي: "دا نو ولې وتا ته دونه مهمه ده؟"
پسله دې کوچنئ شاهزاده دده څخه هم په تراټ ولاړي، او پر لار یې د ځان سره ویل، دا لویان په ربښتیا هم چي د حیرانتیا وړ دي.

{۱۲}
پر دې بله سیاره یوه عملي (شرابي) ژوند کاوه. که څه هم دا لیدنه کتنه ډیره لنډه وه خو کوچنئ شاهزاده یې ډیر خواشینئ کړ.
کوچني شاهزاده چي دغه سړئ ولیدئ، چي یو لړ ډک او تش بوتلان ورته پراته دي او دا سي چپ ورته ناست دئ لکه د ژړو بت. نو یې ږغ پر وکړ چي "دا په څه اخته یې؟"
دې عملي په خواشیني ډول ورته وویل چي:
"زه نشه کوم."
کوچني شاهزاده بیا پوښتنه ځني وکړه چي:
"نو نشه ولې کوې؟"
عملي ورته ویل: "د دې د پاره نشه کوم چي هیر مي سي."
په دا سي حال کي چي د کوچني شاهزاده زړه پر وسو، نو یې بیا پوښتنه ځني وکړه:
"چي څه شي دي هیرسي ؟"
عملي ورته ویل: "چي خپل شرم مي هیر سي."
ده غوښتل یو څه مرسته ورسره وکړي، نو یې بیا پوښتنه ځني وکړه چي:
"نو پر څه شرمیږې؟"

عملي ويل: " په دې شرمېږم چې زه نشه کوم."
او ددې خبرې سره بیا په خپل سکوت کې ورک سو.
وروسته نو کوچنئ شاهزاده دده څخه هم په مات زړه ولاړئ او پر لار یې دځان سره ویل چې:" دا لویان بیخې ډېر د حیرانتیا وړ خلګ دي."

{ ۱۳ }
دا څلورمه سیاره د یوه سوداګر وه. دی بیا دونه مصروف وو ، چې و کوچني شاهزاده ته یې سرلا راپورته نه کئ.
کوچني شاهزاده ورته ویل:
" سلام علیکم؛ سګریټ مو مړسوئ دئ. "
" درې او دوه مې دي پنځه، پنځه او اوه دوو لس، دوو لس او درې پنځه لس. وعلیکم ! پینځه لس او اوه مې دي دوه ویشت دوه ویشت و شپږ. مې دي ا ته ویشت. د سګریټ بلو لو ته و خت نلرم. شپږویشت او پنځه مې دي هم یودیرش. ام؛ دانو پوره پنځه سوه یو ملیون شپږ سوه دوه ویشت زره اوه سوه یودیرش سول."



" دڅه شي پنځه سوه ملیونه کیږي."
څنګه؟ بنه ته تر اوسه لا دلته یې؟ پنځه سوه یو ملیون د...
..؛زه هم په حساب کې ورک سوم... په کار کې تر دوو غوږو غرق یم ! زه یو جدي سړئ یم. دا د کوچنیانو کارونه نه کوم. دوه او پنځه اوه ... "
کوچني شاهزاده چې به پوښتنه وکړه، نو تر جواب یې هیڅ نه تیریدئ. نو یې بیا پوښتنه ځني وکړه چې:
" وایم دا پنځه سوه یو ملیونه د څشي؟ "
سوداګر سر ورته راپورته کئ او ویې ویل چې:
" زه په دا څلور پنځوس کال چې پر دې سیاره ژوند کوم، درې واره اخلال سوئ یم. د لومړي وار

د پاره دوه ویشت کاله دمخه یوې خزدکي ډیر وکړولم، خدای خبر چې د کومې خوا راغلې وه، خو بل ډول ترپې اوخرپې یې اچولې وو. دوهم وار بیا یوولس کاله دمخه وو چې د هډوکو په رنځ اخته سوم، دا هم له دې امله چې ناست نا ست وم، زه خو د کار سړئ یم، وخت نه لرم چې دوري هوري چکرونه ووهم. او اوس بیا دا دریم وار دئ چې ته په حساب کي راګډ سوې. ښه، نو ماویل چې پنځه سوه یو ملیون...“

”وایم د څه شي ملیونه؟“

سوداګر پوه سو چې بیغمه دي نه پریږدي، نو ویل یې:

”په دا ملیونو کوچني شیان چې سړئ یې په اسمان کي کله کله ویني.“

”مچان ښیې؟“

نه...، دا کوچني بربښندوکي شیان ښیم.“

”مچمچیاني ښیې؟“

نه نه...،دا د سروزرو کوچني شیان ښیم، چې دا ایله دنګه خلګ یې په خوب او خیال کي ورک دي.

”ښه، ته دا ستوري بولې؟“

”نو ستوري یې وبوله!“

”په دا پنځه ملیونه ستورو دي نو څه کوې؟“

”څه په کوم؟“

”هو!“

”هیڅ نه په کوم، زه یې خاوند یم“

”ما یو پاچا لیدلئ وو، هغه به...“

”دا بیخي بله خبره ده، پاچهان یې پخپله خاوندان نه دي. دوي یوازي حکومت پر کوي.“

”نو ستا ګټه په دي ستورو کي څه ده؟“

”زه په شتمن یم.“

”نو په شتمني دي څه کوې؟“

”نورستوري په رانیسم، که چا درلودل.“

کوچني شاهزاده دځان سره ویل، چې دی هم وهغه عملي ته سویدئ. خو په دغه ترڅ کي یې نوري پوښتني هم ځني کولې.

”سړئ څنګه د ستورو خاوند کیدای سي؟“

سوداګر په تریو تندي ورته وویل: ”په هر چا چې اړه لري.“

"زه خو نه ورته پوهېږم، ګواکي په هيڅ !"
"نو زما دي، ځکه چي ترهرڅه دمخه ما په دې هکله فکر کړی دئ."
"بس دغونه؟"
"معلومداره، که ته پر يوه الماس پيښې سوې، که د بل څه نه وو، نو ستا دئ. که پر يوه تاپو پيښې سوې، او په څه يې اړه نه درلوده، نو ستا سوه. که د لومړي وار د پاره ستا په فکر کي يو شئ در وګرزيدئ، او ته بيا هغه پر خپل نامه ثبت کړې، نو يوازي په تا اړه لري. او زه چي يم، زه د ستورو خاوند يم ځکه تر ما دمخه هيچا پدې هکله فکر نه دئ کړئ چي د ستورو خاوند دي سي."
کوچني شاهزاده ورته ويل: "دا خو رښتيا وايې، مګر ته څه په کوې؟"
سوداګر ويل: "زه خپله ميرزايي پر کوم، زه يې شميرم، پسله هغه يې بيا شميرم. دا خو اسانه کار نه دئ، زه د کار سړئ يم."
د کوچني شاهزاده چي قناعت نه سو حاصل، نو يې ورته وويل:
"زه چي يو وريښمين شال لرم، نو کولای سم چي پر غاړه يې وتړم او هري خوا ته چي ځم، را سره وي، که زه يو ګل لرم، نو کولای سم چي ويې شکوم او د ځان سره يې يوسم. اما ته دي دا ستوري نسې شکولای."
"نه، مګر زه کولای سم چي په بانک کي يې وساتم."
"دا يعني څه ؟"
"دا دغه معنا لري، چي زه د خپلو ستورو شمېر د کاغذه پر يوه کوچنۍ پاڼه ليکم، د غه پاڼه بيا د ميز په جعبه کي امانت ساتم."
"بس، دغونه؟"
"هو، دغه کفايت کوي."
کوچني شاهزاده د ځان سره ويل: "دا د ساتيري خبری او يو شاعرانه خيالونه دي. سړئ دې دو نه ټينګي نه نيسي." خو دغه يې لا سوداګر ته وويل:
"زه يو ګل لرم، چي هره ورځ يې اوبوم. زه د درو اورغورځونکو غرونو خاوند يم، چي هره اونۍ يې جارو کوم. زه د دې مړو اورغورځونکو غرونو غم هم خورم، ځکه سړئ نه پوهيږي، چي څه پيښه نسي. دا زما د اور غورځونکو غرونو او زما د ګل په خير ده، چي زه يې خاوند يم. مګر ته خو د دې ستورو په هيڅ درد نه خورې..."
سوداګرخپله خوله خلاصه کوله، خو جواب نه تر راوتی.
تر دې وروسته کوچنۍ شاهزاده هم ځني ولاړئ. پر لار يې د ځان سره ويل چي:
"لويان په رښتيا هم چي بيخي غيرعادي خلګ دي."

دا پنځمه سياره ډيره د حيرانتيا وړ وه.دا تر ټولو کوچنۍ سياره وه.دونه کوچنۍ وه، چې يوازي ديوه چوکيدار او دڅراغ د يوې خادې دپاره بسېدله. کوچني شاهزاده ته دغه نه وه روښانه، چې هلته ليري، د اسمان پر يوه سياره، چې نه يو کور پکښې سته، نه اور، نه اوسيدونکي، نو دا چوکيدار او داد سړک دڅراغ خاده د څه دپاره دي.
بيا يې د ځان سره ويل چې کېداي سي دا چوکيدار يوڅه باوله وي، خو دونه ډير هم نه لکه هغه پاچا، هغه خانتما ،هغه عملي سړئ او يا هغه سوداګر.دده کار چې نور څه نه وي، يوه معنا خو لري. دی چې خپل څراغ ولګوي، نو داسي يې وبوله لکه يونوئ ستورئ چې پر دې نړې وځلوي يا يو نوئ ګل وغوړوي.څراغ چې مړ کي، نوستوري او ګل بيديږي. دا يو ډير ښايسته مصروفيت دئ، په رښتيا هم چې ډيرګټورکار دئ، ځکه چې ښايسته دئ.
دی چې ودي سيارې ته راورسيدئ، نو يې د چوکيدار سره په ډير درناوي روغبړ وکئ:
"ورځ دي په خير، دا خپل څراغ دي ولی مړ کئ؟"
چوکيدار ورته ويل: "ماته دغه امر سويدئ، ورځ دي په خير"
"امرڅه شي دئ؟"
"امر دغه دئ، چې څراغ مړکم، شپه دي په خير."
او ددې سره يې سم بيرته څراغ ولګاوه.
"نو ولي دي داسي ژر بيرته ولګاوه؟"
چوکيدار ورته ويل: "دغسي امر سويدئ."

کوچني شاهزاده ورته ويل:"نسوم پوه !"
چوکيدار ويل:" دا د پوهيدو خبره نه ده. امر نو امر دئ، ورځ دي په خير."
چوکيدار بيا خپل څراغ مړ کئ. او پسله هغه يې په خپل سره بادامي دستمال دتندي خولې وچې کړې او ويل يې: "ورورکيه،ډيره بدمرغه دنده را په غاړه ده. پخوا ښه وو، هرڅه پر عقل برابر وه سهار به مي څراغ واژه، ماښام به مي لګاوه.نور به مي کړه ورځ د مه غلطوله، او ټوله شپه به مي خوب کاوه."
"نو د هغه راهيسي بل امر سويدئ؟"
چوکيدار ورته ويل: "يه، بل امر نه دئ سوئ. وير پدې کي دئ چې دا سياره اوس کال په کال ژرژر اوړي، خو امر پر هغه خپل حال پاته دئ."
کوچني شاهزاده ويل: "ښه،نو اوس ؟"

"اوس نو، څرنګه چې دا په دقیقه کې یو وار ګرزي، نو زه یوه ثانیه لا هم ارام نه لرم. په هره دقیقه کې یو وار څراغ بلوم او یو وار یې وژنم."
"دا هم ساتېری دئ، ورځ دې یوازې یوه دقیقه ده!"
چوکیدار ورته ویل: "دا نو څه ساتېری دئ. دا زمونږ پر خبرو اوس پوره یوه میاشت تیره سوه!"
"یوه میاشت؟"
"هو، دیرش دقیقې یعنې دیرش ورځې، شپه دې په خیر!" او د دې سره یې سم خپل څراغ بیرته ولګاوه.



کوچني شاهزاده ورته کتل، دا چوکیدار یې ډېر پر زړه کښېنستئ، ځکه دی پرامر ټینګ وو. پر دې وخت هغه خپل لمرلویده ورپه یاد سوه، چې یو وخت به پسې ګرزیدئ او د لمرلوېدو په خاطر به یې هره پلا خپله چوکۍ ورمخ ته کوله.
ده غوښتل چې دده دې ملګري سره خواخوږي وکړي او یوه لار وروښیي:
"پوهیږې... که غواړې چې ځان هوسا کړې، ماته یو چل را معلوم دئ..."
چوکیدار ورته ویل: "زه ناست و یوې ښې مشورې ته یم!"
ځکه سړي پریوه وخت کولای سي چې هم وفادار وي او هم لټي وکړي؛ نو یې ورته وویل چې: "دا ستا سیاره دونه کوچنۍ ده چې په درې ټو په پر را ګرزیدلای سې. نو که دې ګامونه سوکه واخلې، تل به درباندې لمر وي. که دې غوښتل چې ساواچوې، نو تګ کوه. ورځ به دونه درباندې اوږده سي چې ستا زړه غواړي."
چوکیدار ورته ویل: "په دې چم کې خو دې چنداني مزه نسته، زما په ژوند کې خوب خوښ دئ،

خوب !"
کوچني شاهزاده ورته ویل:" دا نو نه سره رسیږي."
چوکیدار ویل: " نه سره رسیږي، ورځ دي په خیر !" او څراغ یې مړ کړ.

کوچني شاهزاده چې خپل سفر ته دوام ورکاوه، پر لار یې دځان سره و یل چې ددې چوکیدار څخه به د ټولو بدراځي،د هغه پاچا ، د باټک ، د عملي اود سوداګر. خو دی یوازنئ سړی دئ، چې ماته سپک سړئ نه ښکاري.علت یې ښایي دا وي، چې دی د خپل ځان پر ځای د نورو په غم کي ورک وي.
وروسته یې د افسوسه ډکه اسویلی وکښله او دځان سره یې ویل:
دی یوازنی سړی وو چې ملګرتوب مي ورسره کولاي سواي، خو دده سیاره چې رښتیا سي ډېره کوچنی ده، دوه کسه نه پکښي ځاییږي...
خو پر یوه شي چې کوچنئ شاهزاده رانغلئ، هغه په دې بر کتي سیاره پسي دده ارمان وو. نور یې هیڅ ، یوازي په دا څلیرویشتو ساعتوکي، یوزر و څلورسوه څلویښت واره لمر لویده به دده څنګه هیر سوي واي !

{۱۵}
دا شپږمه سیاره تر هغه بلي لس واره غټه وه. پر دې سیاره یو سپین ږیرئ سړی اوسیدئ چې بیخي غټ غټ کتابونه یې کښلي وه. دې بوډا چې کوچنئ شاهزاده ولیدئ، نو یې ږغ سو چې:
" هغه دئ، یو څیړونکئ !"
کوچني شاهزاده یې ومیز ته کښینستئ، چې څه سا واچوي؛ ځکه ډیره لار یې وهلې وه،ستړئ ستومانه وو.
دې بوډا پوښتنه ځني وکړه چې: "ځوانه دکومي خوا راغلئ یې؟ "
کوچني شاهزاده ورته ویل: " دا پنډ کتاب دڅشي دئ ؟او ته دلته په څه اخته یې؟ "
بوډا ورته ویل: " زه جغرافیه پوه یم"
"جغرافیه پوه وڅشي ته وایي؟ "
"جغرافیه پوه یو عالم دئ، دی پدې پوهیږي چې غرونه، رودونه، دریابونه، ښارونه او بیدیاوي چیري وي."
کوچني شاهزاده
ویل: " دا خو ډیر
ښه کار دئ، دا دئ



اوس پر سم مسلک ولګېدم."
ده وروسته د جغرافیه پوه پر سیاره شاوخوا وکتل. تر اوسه یې داسې شاهانه سیاره نه وه لیدلې.
"دا ډېره ښکلې ده، دغه ستا سیاره! دلته دریابونه هم سته؟"
جغرافیه پوه ورته ویل: "په دې زه نه خبر."
کوچنۍ شاهزاده یوڅه مأیوسه سو، ویل یې: "ښه، غرونه څنګه؟"
جغرافیه پوه ویل: "زه پدې هم نه یم خبر."
"مګر تاسې خو جغرافیه پوه یاست، رودونه ښارونه او بیدیاوې څنګه؟"
"زه پدې هم نه یم خبر"
"اما تاسې خو جغرافیه پوه یاست!"
جغرافیه پوه ویل: "هو، دا سمه ده، مګر زه څېړونکۍ نه یم. دلته د څېړونکو بیخي نیستي ده. جغرافیه پوه د ښارونو، غرونو، رودونو، دریابونو او بیدیاوو په شمیرلو او څېړلو پسې نه ځي. د جغرافیه پوه د پاره دا حیف دئ چې یو یا بلې خواته په دغسې شیانو پسې غورځید لئ وي. دی د خپله میزه نه ښوري، مګر هو، دی څېړونکي ځانته مني. دی د څېړونکي خبري اوري او د دوی نظریې یاداښتوي. که یې چیري د یوه څېړونکي یاداښتونه خوښ سول، نو یې د اخلاقو په هکله رسمي تحقیق کوي."
"دا نو ولې؟"
"دا پدې خاطر، چې که یو څېړونکۍ درواغجن وو، نو د جغرافیې په کتابونو کې به لویه ګډوډي را پیښه کړي. د یوه نشیي او عملي سړي دا هم داسې وبوله."
کوچني شاهزاده ځني وپوښتل چې: "دا نو ولې؟"
"داهم په دې خاطرچې که چا نشه کړې وه، نو تر سترګو یې یو شئ دوه سي، نو جغرافیه پوه به هم په خپل کتاب کې د یوه غره پر ځای دوه غرونه ورسوي، خو یوازې یو غر به وي."
کوچني شاهزاده ورته ویل. "زه یو پیژنم، هغه به هم بد څېړونکۍ وي."
"کیداې سي، خو که د څېړونکي اخلاق سم وه، نو یې سړی پر کشفیاتو باندې غور کوي."
"ښه، نو سړئ ځي، پوښتني ګرویږني پسې کوي؟"

"نه، دا کار سرګرداني لري. اسانه لار یې دا ده چې سړی د څېړونکو څخه ثبوت وغواړي. مثلاً که خبره د یوه لوی غره پر کشف وه، نو دی باید غټې غټې سخړې د ځان سره راوړي."
جغرافیه پوه یو دم ارنې ورته واخیستئ، ویل:

"ته خو هم د ډېره لیري ځایه راغلئ یې ! ته ځیرونکئ یې ! ته ماته د خپلې سیارې په هکله بیانونه کوه، زه به یې په کتاب کې رسوم."
جغرافیه پوه خپل د ثبت کتاب وغوړاوه او پنسل یې هم ورته وتوږئ.
سړی د ځیرونکي خبري اول په پنسل رسوي، هر وخت چې یې اسناد راوړل بیا یې په رنګه قلم سره لیکي.
جغرافیه پوه ویل: "ښه، ویل کوه !"
کوچني شاهزاده ویل: "اوه، هغه زما په ټاټوبي کې دونه ځای نسته، هغه یو ډېر کوچنئ ځای دئ. زه درې اورغورځونکي غرونه لرم. دوه یې ژوندي دي، یو یې مړ دئ. خو سړئ هیڅکله نه سي ویلای چې....."
"جغرافیه پوه ویل: "سړي هیڅکله نسي ویلای؟"
"زه یو ګل هم لرم."
"موږ ګلان نه ثبتوو."
"دا نو ولې؟ ګلان خو تر هر شي ښایسته دي !"
"دا ځکه چې ګلان د منځه تلونکي دي."
"دا (د منځه تلونکي) څه مانا؟"
جغرافیه پوه ورغبرګه کړه چې:"دا د جغرافیې کتابونه چې دي، تر نورو ټولو کتابونو ډېر ارزښت لري. دغه کتابونه نه زړېږي. ډېره نادره ده چې یو غر دي د خپله ځایه وښوري، دا ډېره نادره ده چې یو دریاب دي خپلې اوبه وچې کړي. موږ هغه شیان په کتابونو کې رسوو، چې تل پاته وي."
کوچنئ شاهزاده یې په خبره کې ور ولویدئ: "مګر دا مړه اورغورځونکي غرونه کیدای سي چې بیرته راژوندي سي، دا د منځه تلونکي څه مانا لري؟"
"دا دغه مانا لري چې پوپنا کیږي."
"نو زما ګل هم پوپنا کیږي؟"
"بیله شکه !"
کوچني شاهزاده د ځان سره ویل: "زما ګل د منځه تلونکئ دئ، د ځان د ساتلو دپاره یوازي هغه خپل څلور اغزي ورپاته دي او ماهم خوارکی په کورکي تک تنها پرېښووئ !"
دا د کوچني شاهزاده د پښیمانۍ اول وار وو، خو وروسته یې د جغرافیه پوه څخه پوښتنه وکړه، چې:
"تاسي وماته څه سلا راکوي، زه پر کومه تړه ولاړ سم؟"
جغرافیه پوه ورته ویل:

”که زما منې، د مځکي سیارې ته ځان رسوه، دمځکي ښه نوم تللئ دئ !“
نوکوچني شاهزاده هم ملا وتړله او دمځکي پر خوا رهي سو، خو خپل ګل یې کرۍ لار په زړه کي جګ ولاړ وو.



{۱۲}
دا اومه سیاره مځکه وه.
مځکه نو هسي مازي یوه سیاره نه ده. دلته چي حساب سویدئ، یو سل ویوولس پاچهان (د یادولو وړ ده، چي که څوک د حبشانو پاچهان دیاده و نه با سي !)، اوه زره جغرافیه پوهان، نه سوه زره سوداګران، اوه نیم زره عملیان، دري سوه یوولس ملیونه خانتما او باټکان، او چي

داسي لنډه يې درته راوګرزوم څه ناڅه دوه مليارډه لويان خلګ پکښې شميرل سويدي.
د مځکي د غټوالې په هکله دغونه درته ويلاي سم چي د بريښنا تر اختراع د مخه هلته پر ټولو شپږو لويو وچو، د چوکيدارانو يو لوي لښکر چي په شمير پوره څلورسوه دو شپيته زره پنځه سوه يوولس کسه وه، خپلي دندي په پوره ايمانداري تر سره کولې. دليري چي دي ورته کتلاي، ډير ښه خوند يې کاوه. ددې لښکر حرکتونه داسي پر درک برابر وه لکه د اوپرا په نڅاکي.
د نڅاپيل به د نيوزيلينډ او آسټراليا چوکيدارانو کاوه. دوي چي به خپل څراغونه مړه کړل، نو به بيده سول. د دوي پسې به د چين او سايبريا چوکيداران په اتڼ راګډ سول. وروسته به دوي هم پر شا سول، بيا به دهندي او روسي چوکيدارانو وار سو. بيا د افريقا او اروپا چوکيداران، تر دوي پسې د جنوبي امريکا اور ورپسې د شمالي امريکا چوکيداران. دوي په خپل وار کي هيڅ نه سره تيروتل، په ډيره لوړه سويه وه. خو د شمالي قطب چوکيدار او دده د جنو بي قطب انډيوال، ډير د ټنبلۍ او عياشۍ ژوند کاوه. دوي دواړو په کال کي يوازي دوه واره کار کاوه.

{۱۷}

که څوک وغواړي چي په ځيرکو خلګو کي و شميرل سي، نو دا ور سره ترلې ده چي يو لږ څه زياتئ دي ځني وسي. ما چي د دا چوکيدارانو کيسې در ته کولې، نو مي هم يو څه سپيرونځ ورسره کاوه. زه پر دې بيريږم، هغه کسان چي دا زموږ سياره ښه پوره نه پيژني، زه يې په هکله غلط انځور ورکړم. دوي به داسي وانګيري، چي ګوا کي انسانان به نو پر مځکه ډير لږ ځاي نيسي. خو که چيري د دې ټولي مځکي دوه مليارډه انسانان، داسي سم او چخت پر چخت سره ودريږي لکه په مظاهرو کي، نو به ټوله پر داسي يوه عمومي ميدان چي شل ميله يې بر او شل ميله يې اوږدواله وي، بې تکليفه ځاي سي. يعني دا چي سړي کولاي سواي چي د نړۍ ټوله انسانان دآرم سمندر پر يوه ډېره کوچنۍ ټاپو باندي سره تخته کړي. خو لويان به مو دغه هيڅ نه ومني. دوي داسي فکر کوي چي ګواکي ډير ځاي به نيسي. او ځانونه هم دونه ارزښتمن ورته ايسي لکه بائوباب و ته. دوي ته به دغه وا ياست چي ځانونه وشميري، په دې خبره دوي ډير خوشاله کيږي. دوي و شميرته سجدې لا لګوي. خو تاسي به وخت نه پر ضايع کوئ. دا راسره ومنئ چي په هيڅ نه ارزي!

کوچنئ شاهزاده چي مځکي ته راورسېدئ، نو يو وار هېښ پېښ پا ته سو چي دلته خو ځاي سته، جولا نسته. دی لا په دې ببره کي وو، چي سياره به يې غلطه کړې وي، چي نا ببره يې

سترګي يې د سپوږمۍ په رنګ يوه ګردي شي باندي ولګېدلې، چي په ريګو کي ښويدئ.
کوچني شاهزاده بې دريغه پر ډ ږغ کړل چي: "اسلام عليکم !"
مار ورته ويل: "وعليکم !"
کوچني شاهزاده ورته ويل:" زه پر کومه سياره رالويدلئ يم؟"
مار ويل: "پر مځکه، ته په افريقا کي يې !"
"اوه، ... پر مځکه نو بل هيڅوک نسته؟"
مار ويل: "دلته نوصحرا ده، په صحرا کي هيڅوک نسته، مځکه لويه ده."
کوچنئ شاهزاده پر يوه ډبره کښينستئ، اسمان ته يې وکتل، او ويل يې:
"زه دځانه پوښتم چي دا ستوري نو ددې دپاره ځليږي، چي هرڅوک خپل ستورئ پر وپېژندلاي سي؟ هغه زما ستوری وينې، د غه مخامخ زموږ پر سر چي ځليږي... ، اما څونه راڅخه ليري دئ !"
مار ورته ويل: "هو، ښايسته ستورئ خو دئ، مګر تا دلته په څه پسي را وهلي دي؟"
کوچني شاهزاده ويل:" زما د ګل سره اوقات تريخ وو."
او ددې سره سم دواړه چپ سول.
ورسته کوچني شاهزاده ويل:
"دا انسانان چيري دي؟ سړی دلته په صحرا کي يوازي نه ديغيږي... "
مار ويل. "سړی دانسانانو سره هم ديغيږي."
کوچني شاهزاده مار ته ښه ډير وکتل او بيا يې ورته ويل:
"ته هم عجبه شئ يې، داسي نرئ يې لکه ګوته... "
مار ورته ويل:
"اما زه دپاچا ترګوتي لا زورور يم."

کوچني شاهزاده ته خندا ورغله، ويل:
"په تا کي خودونه زور نه وينم.....ته پښې لا نه لرې..... سم تګ لا نسې کولاي."
مار ورته ويل: "دا مه وايه، زه دي تر کښتی لا ليري ځايو ته رسولاي سم."



وروسته مار راغئ د کوچني شاهزاده پر بجلکه داسي وپيچيدئ، لکه د سرو زرو وبنَئ. نو يې ورته وويل:
"زه چي دچا څخه ومښلم، و هغې خاوري ته يې سپارم چي ځني راغلئ وي ، مګر ته پاک موجود يې، ته دستوري يې..."
کوچني شاهزاده هيڅ نه ورته وويل.
مار ويل:" زما ددې تورو ګرانيتو د ډبرو پر نړۍ يوازي پر دغه تا چي دو نه پر کمزوری يې، زړه سوځي. هر وخت که په خپله سياره پسی ديغ سوې، پر ما رېغ کوه ! زه کولاي سم چي... "
کوچني شاهزاده ورته ويل:" اوه، اوس پوه سوم، مګر ته ولي داسي د رازه ډکي خبري کوې؟"
مار ورته ويل: "زه هر يو د عذابه خلاصوم."
پسله دې دواړه چپ سول.

{ ۱۸}
کوچني شاهزاده ټوله صحرا تر پښو وکښله، اخير پر يوه ډير خوارکي ګل ولګيدئ، چي يوازي درې پاڼې ورپاته وې...
کوچني شاهزاده ورته ويل: "سلام عليکم "
ګل سلام وربيا کئ: "وعليکم "
کوچني شاهزاده په ډير ادب پوښتنه ځني وکړه چي: " دا انسانان چيري دي؟ "
دې ګل يو وخت يو کاروان ليدلی وو چي پر دې خوا تيريدئ، نو يې ورته وويل چي:
" انسانان ښيې؟ زما په خيال چي داسي شپږ يا اوه کسه به وي، ما څو کاله دمخه ليدلي وه. مګر دانو معلومه نده چي سړئ اوس چيري پسي وګرزي، دوي باد پسي اخيستي دي. خوارکيان ريښې نلري، خدای دې وزله وکړي."
کوچني شاهزاده ورته ويل: " نو د خدای په امان."
ګل ويل: " په مخه دي ښه "

{۱۹}
کوچني شاهزاده ديوه جګ غره ترڅوکي ځان ورساوه. يوازني غرونه چي ده تر دې مهاله پيژندل، هغه دده درې اوږ غورځونکي غرونه وه چي هر يو يې دده تر ځنګانه پوري رسېدئ، دهغه مړه اورغورځونکي غره څخه يې هم دکښينستو دپاره د چوکۍ کار اخيستئ.
ده دمخه د ځان سره ويل، چي که د دې جګ غره څوکي ته وخېژم نو به په يوه پلا دا بسته سياره

د ټولوانسانانو سره ووينم... خو بيله تردې ستنولا تيزو سخرو يې بل څه ونه ليدل. نو يې بې اختياره ناره کړه چي: "سلام عليکم ! "
د هغې خوا ازانګه سوه چي: " سلام عليکم... سلام عليکم... سلام عليکم...
کوچني شاهزاده ويل: "ته څوک يې؟"



د هغې خوا ازانګه سوه چي: "ته څوک يې... ته څوک يې... ته څوک يې..."
ده ويل: "زما شريکان سئ، زه يوازي يم."
ازانګې جواب ورکئ چي: "زه يوازي يم... يوازي... يوازي... "
ده دځان سره ويل: دا بيا عجبه سياره ده، وچه کلکه، مالګينه لکه وچ مالګوبئ او د تيرو تيرو څخه ډکه. انسانان يې هيڅ نازکخيالي نه لري. هرڅه چي ورته ووايې، دوي هغه ورته تکراروي... په کور کي خو مي لا يو ګل درلود، اول به ده څه ويل...

{۲۰}

خو پسله دې چي کوچني شاهزاده پر ريګ، لويو سخرواو واورو ښه ډېر مزل وکئ، نو پر يو سړک پېښ سو. سړکان بيا سرئ مخامخ د انسانو پرخوا ورولي.
ده ويل: "سلام عليکم"
( پر دې ځای د ګلابو يو باغ وو. )
ګلابو ويل: "وعليکم"
کوچني شاهزاده چي ښه ورته وکتل. دوي د يوه



مخه دده وګل ته سوي وه. بيا يې په ډېره حيرانتيا پوښتنه ځني وکړه، چې: "تاسي څوک ياست؟ "

ګلانو ويل: "موږ ګلان يو، په ګلانو کي ګلاب يو."
کوچني شاهزاده "اوه"... کړه.
پر دې وخت نو ده ته ځان ډېر اسکېرلئ وايسېدئ. ده ته خپل ګل ويلي وه چي په ګلانو کي يې پرتوله دنيا جوړه نسته. او دلته بيا ګوره چي ددوي څخه پنځه زره پر يوه ځاي را ټول سويدي.
دټولو هم يو بڼ، يوه بڼه!
دځان سره يې ويل چي: "که زما ګل دغه ګلان وليدل، نو ډېر درد به ورسي. ډېر بد به وټوخېږي او ددې دپاره چي سپک نسي، نو داسي چمونه به وکړي لکه سا چي يې خيژي؛ زه به هم دده په پالنه او چوپړ اخته يم، اوکه دا ونه کړم نو کيداي سي چي په رښتيا هم ځان و مرګ ته ور کړي او پدې ډول مي وشرموي.



نو يې زړه ډېر د شنوخته ډک سوا وويل يې: "ما فکر کاوه چي زه به په يوه داسي ګل بډاي يم چي په خپل نوع کي سارئ نه لري، ، خو افسوس چي زه د هسي يوه معمولي ګل خاوند يم.
دغه ګل دهغو درې اورغورځونکو غرونو سره چي يو يې کيداي سي د ابد دپاره د اوره لويد لئ وي، زما څخه يو ډېرلوئ شاهزاده نسي جوړولاي..."
ددې سره سم پر شنه مرغه ولويدئ او په ژړا سو.

{۲۱}
په دې ترخ کي يوه ګيدړه را ښکاره سوه.
ګيدړي ويل: "سلام"
کوچني شاوخوا وکتل، څوک يې په سترګه نه سو، خو په ډېر ادب يې سلام ور بيا کئ: "

وعلیکم ! "
د هغې خوا ږغ سو چي: " زه دلته یم، دمڼو تر وني لاندي..."
کوچني شاهزاده ویل، " ته څوک یې؟ " او ویل: " ته ډېره ښایسته یې ! "
ګیدړې ویل: " زه ګیدړه یم."
کوچني شاهزاده ورته ویل:" خو راسه زما سره بازی وکړه، نن مي داسي زړه دشنوخته راته ډک دئ."
ګیدړي ورته ویل: " زه ستا سره بازی نسم کولاي، زه لا نه یم رام سوې."
کوچني شاهزاده ویل: " اوه، وبخښه ! "
خو پسله یو څه سوچه یې ورته وویل چي: " دا (رامول) وڅه ته وایي؟ "
ګیدړي ورته ویل: " ته لکه چي ددې ځای نه یې، په څه پسی ګرزې؟ "
کوچني شاهزاده ویل: " زه په انسانانو پسي ګرزم؛وایم دا (رامول) یعني څه؟ "



ګیدړي ویل: " دا انسانان چي دي، ویشتل کوي؛ دا ازار دئ چي دوي یې کوي.خو دوي چرګان هم روزي. ته هم چرګانو ته غلئ یې؟"
کوچني شاهزاده ورته ویل: "یه، زه په ملګرو پسي ګرزم، وایم دا رامول وڅشي ته وایي؟"
ګیدړي ویل: "دا خبره اوس یو څه د موډه لویدلې ده، دا مانا(پر ځان اموخته کول)"
"پر ځان اموخته کول؟"
ګیدړي و یل:" هو، ساده خبره ده. تر اوسه لا ته وما ته بیله یوه کوچني هلکه، لکه دا نور په لکو کوچني هلکان بل څه نه یې. زه هم وتا ته دګیدړو څخه یوه ګیدړه یم، لکه دانوري په لکو لکو ګیدړي.نه ته زما په ښه راځې اونه زه ستا ؛ اما که تا زه رام کړم، نو به دواړه یو دبل په ښه سره ورسو. ته به په ټوله نړۍ کي وماته یوازنۍ ځوانکئ یې او زه به هم په ټوله نړي کي وتاته یوازنۍ ګیدړه یم... "
کوچني شاهزاده ویل:
" ښه، اوس مي یو څه سد ورسېدئ؛ یو ګل دئ... هغه به نو هم زه رام کړئ یم..."

ګیدړې ویل:" ودې سي، پر مځکه سړئ دهر شي سره مخامخ کیداي سي."
کوچني شاهزاده "اوه" کړل، ویل یې: "مګر هغه ګل پر مځکه نه دئ."
ګیدړې چې د بلې سیارې خبره واوریده، نو ارنۍ ورته واخیسته:
"پر بل ستوري؟"
"هو!"
"پر هغه ستوري ښکاریان هم سته؟"
"یه!"
"دا جالبه ده!"
"چرګان څنګه؟"
"یه، چرګان هم نسته!"
ګیدړې سړه اسویلۍ وکښله، ویل یې:
"هیڅ شئ کامل نه دئ!"
وروسته ګیدړې خپلې خبرې پسې راواخیستې، ویل یې:
"زما ژوند نو پر یوه کرار دې. زه د چرګانو په ښکار وتلې یم، انسانان بیا زما په ښکار. ټوله چرګان یو بل ته سره ورته دې او ټول انسانان یو بل ته سره ورته دې. نو مې څکه نفس راته تنګ دئ. خو که تا زه رام کړم، نو داسې به سم لکه پر ژوند چې مې لمر را وخیژي. زه به دې د قدمو نو پر ږغ پیژنم. دنورو د قدمونو ږغ ما تر مځکې لاندې ځغلوي، ستا دا به لکه ساز ماد غاره راباسي. بیا دې نو سیل کوه! ته هغه د غنمو کروندې وینې؟ زه خو پخپله ډوډۍ نه خورم، نه مې غنم په کار دې. دغنمو کښت او کروندې هم هیڅ شئ نه را په یادوي؛ دا د خواشینۍ ځاي دئ. مګر دا ستا د وریښتانو طلایي رنګ وغنمو ته ورته دئ. دا به ځو نه خوند و کړي، چې ته یو وخت ما رام کړې! دا د غنمو د کروندو سره زر به تا را په یادوي، په غنمو کې به مې دباد پر ږوږ زړه کښیني..."
ګیدړه چپ سوه، خو وکوچني شاهزاده ته یې خپلې دوې سترګې وچې نیولې وې.
وروسته ورته په زاریو سوه، ویل:
"ونیسه دغه ځواني راسره وکه...، ما رام که!"
کوچني شاهزاده ورته ویل: "زه دې هم راموم، مګر اوس دونه وخت نلرم. زه باید په ملګرو پسې وګرزم او نوي نوي شیان وپیژنم."
ګیدړې ورته ویل: "سړئ یوازې هغه شیان کره پیژندلاي سي چې رام کړي یې وي. انسانان ودې

ته وخت نلري، چي هرشئ په مخه ورسي ، دوي يې وپيژني. دوي په دکانو کي هر شئ تيار رانيسي. خو څرنګه چي د ملګرو د رانيو لو دکانو نه نسته، نو دوي هم ملګري نلري. نوکه ته ملګرې غواړې، ما رام کړه."
کوچني شاهزاده ورته ويل:
"ښه، نو زه څه بايد وکړم، چي ته په رام سې؟"
ګيدړي ورته ويل چي: "ته به اول ډيره حوصله راته کوې. زما څخه به په وښو کي ګو ښه ګوښه کيږې.زه به د سترګو تر کونجو غلې غلې درته ګورم او ته به هيڅ نه وايې. دا ځکه چي ژبه د غلط فهميو سرچينه ده. خو ته به ورځ په ورځ ځان را نږدې کوې..."

په دا بله ورځ کوچنئ شاهزاده بيا ورته راغئ.
ګيدړي ورته و يل: "دا به ښه وي چي پر يوه ټاکلي وخت راسې. ته يې دا سي وبوله، چي که دماپښين پر څلور بجي راتلې، نو زه به پر درې بجې لا خوشامند درته کوم. هر څو نه چي دې د راتګ وخت رانږدې کيږي، زما به هغونه هوس درته زياتيږي. پسله څلور بجې به مي نو زړه په هوا وي او ګروم به کوم. په دې ډول به نو زه د ژو ند په خوند پوه سم. او که ستا د را تګ و خت معلوم نه وو ، نو زه به نه پوهيږم چي کله درته وګورم...موږ بايد يوښه ټينګ دود ولرو !"
کوچني شاهزاده ويل:"دا ( ټينګ دود ) وڅه ته وايي؟"
ګيدړي ويل: "دا خبره هم اوس يو څه د موډه لويدلې ده."
دا دغسي شئ دئ چي سړئ يوه ورځ دبلې څخه يا يو ګړئ دبل ګړي څخه په بيلوي. دمثال په توګه دا زموږ ښكاريان يو دود لري. دوي د جمعي په ورځ دخپلو انډيوالانو سره بانډارونه کوي، نو دغه ورځ هم پردوي په خوشالي تيريږي او هم پرما. زه په دغه ورځ دانګورو په باغونو کي په بيغمه زړه خپل چکرونه وهم. که چيري دوي په يوه ټاکلې ورځ بانډار نه کولاي، نو پر ما به ټوله ورځې يو شان واي او هيڅ فارغه ورځ به مي نه درلوداي.
کوچني شاهزاده په دې ډول ګيدړه پرځان اموخته کړه. خو دبيلتون ګړئ چي راورسيدئ، نو ګيدړي ويل:
"اوف، ماته ژړا راځي."
کوچني شاهزاده ورته ويل: "
دا نو ستا ګناه ده، زما خو بده
نده دربانـدي پيرزو، خو تا
ويل چي رام مي که..."
ګيدړي ويل: "بيله شکه"



کوچني شاهزاده ويل: "نو ژاړې لا هم؟"
ګيدړي ويل: "خامخا"
"نو ګټه دي ونه کړه !"

ګيدړي و يل: "دغنمو رنګ مي وګټئ !" او دا يي پسي وويل:



"ته ولاړ سه بيا دغو ګلانو سيل وکړه. ته به په دې پوه سې، چې هغه ستا ګل په رښتيا هم په ټوله نړۍ کي بې ساری دئ. بيرته چي راسې، نو به زما سره دخداي په اماني وکړې.زه به بيا خپل يو پټ راز درسره شريک کړم."
شاهزاده هم ولاړ چي ګلان ووينې.
ده چي دا وار ګلان وليدل، نويي يو څو ښې سپيني خبری ورته وکړې، ويل:
"تاسي يو لا هم زما ګلاب ته ورته نه ياست او نه تر اوسه لا يو شئ درڅخه جوړ سويدئ. تر اوسه لا هيچا پر ځان نه ياست اموخته کړي او نه تاسي څوک پر ځان اموخته کړيدئ. تاسي داسي شيان ياست لکه پخواچي هغه زما ګيدړه وه. دا داسي ګيدړه وه لکه داسي په زرو او لکو نوري ګيدړي. مګر دا ما خپله ملګرې کړه. نن ورځ دا وماته پر ټوله نړۍ يوازنۍ ګيدړه ده."
په دې خبرو نو په ګلانو هم سرونه وځړيدل.
په اخير کي يې دغه لاهم ورته وويل چي: "هو، دا منم چي تاسي يو تر بل ښايسته ياست اما په زړه تش ياست. سړئ پر تاسي ځان نسي وژلاي. سمه ده، که پر دې خوا يو څوک تيريدئ، نو دغه به وايي چي ګواکي زما ګل به هم وتاسي ته سوئ وي.خو دی تر تاسي ټولو بې دئ. ځکه دی وو چي ما اوباوه، دی وو چي د باده مي خوندي کاوه، دی وو چي مرتبانه به مي پر ايښوولهٔ، دا دی وو چي چينجيان به مې وروژله ( د هغو دوو يادرو چنجيانو پرته، هغه هم د بوراګانو په خاطر )

؛ دی وو چي نخرې او ټګی به مې ګاللې، یا به راته چپ وو. دا ځکه چي زما ګلاب دئ.“
وروسته راغئ وګیدړي ته، ویل:
”ګیدړي دخداي په امان... “
ګیدړي ویل:
”په مخه دي ښه ! او دا هم هغه زما پټ راز دئ، یوه ډیره ساده خبره ده:
سړی یوازي د
زړه په سترګو
ښه لیدلاي
سي، اصلي او
سرغنه شیان
د سر په سترګو
نه لیدل کیږي !“



کوچني شاهزاده
هم دځان سره
تکرار کړه چي
ښه یې په یاد کي ونیسي:
”اصلي او سرغنه شیان په سترګو نه لیدل کیږي.“
ګیدړي ویل:
”هغه وخت چي تا پرخپل ګلاب بایللئ دئ، دی یې دونه درته مهم کړی دئ.“
کوچني شاهزاده هم پسي وویل، چي ښه یې پر ذهن کښیني:
”هغه وخت چي ما پر ګلاب بایللئ دئ،...“
ګیدړي ویل:
” انسانانو حقیقت هیر کړیدئ، خو ته به یې نه هېروې. ته په خپل ټوله ژوند وهغه څه ته مسؤل یې، چي اموخت دي ورسره نیولی دئ. ته دي وګلاب ته مسؤل یې... “
کوچني شاهزاده هم تکرار کړه، چي دغه پند یې هیر نسي:
”زه مي وګلاب ته مسؤل یم...“

{۲۲}

کوچني شاهزاده ویل: ”سلام علیکم“

د اورګاډي پټلۍ والا ویل:"وعلیکم"
کوچني شاهزاده ورته ویل:"دا په څه اخته یې؟"
پټلي والا ویل:"زه پر وار د مسافرو زر زر کسه سره یو ځاي کوم، بیا یې اورګاډي چي دوي تر خپلو ځایو رسوي، کله پر راسته خوا او کله پر چپه خوا لېږم." پدې ترڅ کي یو اورګاډي چي بتۍ یې خورا تیزي لګیدلې او د تالاندي په شان غړومبي یې وو، د اسي تیر سو لکه بڅرکۍ، چي د پټلي والا کوټه یې لا ولړزوله.
کوچني شاهزاده ویل:"دوي چیري ځي چي د اسي یې تلوار دئ ؟"
پټلي والا ورته ویل: "پدې نو پخپله هغه د اورګاډي چلونکي لا نه دي خبر"
دوي لا دغه خبري کولې، چي دهغي خوا د یو بل اورګاډي غړومبی سو او د اسي په تراټ تیر سو لکه بریښنا.
کوچني شاهزاده ویل:"دوي بیا بیرته راوګرزېدل؟"
پټلي والا ورته ویل: "دا هغه خلګ ندي چي ولاړل. دا نور دي چي دهغي بلي خوا راغلل."
"دوي نو هلته خوشاله نه وه؟"
پټلي والا ویل:" سړی چي هرځاي وي، هلته خوشاله نه وي."
او هغه وو چي دریم اورګاډی په دربي او غروزي لکه لمبه د اسی تیر سو.
کوچني شاهزاده ویل: "دوي په هغه اوله ډله مسافرانو پسي ځي؟"
پټلي والا ویل:"دوي په هیڅا پسي نه ځي. دوي هلته د ننه یا بیده وي یا اررمی کاږي. یوازي کوچنیانو خپلي پزي د کړکیو پر ښیښو کښیکښلي وي."



کوچني شاهزاده ویل: "هو، یوازي کوچنیان پدې پوهیږي چي پر کومه ځي. دوي خپل ټوله وخت د ګودړانو په ناوکیانو تیروي. دغه ناوکیاني بیاو دوي دونه ارزښتناکه سي، چي که چا څني اخیستلې، نو دوي په ژړا سي..."
پټلۍ والا ویل: "هو، ژوند نو ددوي دئ."

{۲۳}

کوچني شاهزاده ویل: "سلام علیکم"

عطار ویل: "وعلیکم"

دې سړي د تندې ماتولو ډېرې اغیزمنې ګولۍ خرڅولې. دا داسې ګولۍ وې، چې که به چا په هفته کې یوه دانه څني وخوړله، بیا به هیڅ تنده نه ور پیښېدله.

کوچني شاهزاده ورته ویل چي "ته نو ولې دغه ګولۍ خرڅوې؟"

عطار ورته ویل: "په دې ګولیو کې د وخت ډېره سپما ده. کارپوهانو چې حساب ورته کړیدئ، که سړئ د دې ګولیو څخه په هفته کې یوه دانه وخوري نو پوره دروپنځوس دقیقې وخت به وسپموي."

"په دې دروپنځوس دقیقې نو سړئ څه کوي؟"

"هرڅه چې یې زړه غواړي، هغه په کولای سي..."

کوچني شاهزاده ویل: "که ما دغه دروپنځوس دقیقې وخت درلودای، نو د ادبو وڅا ته به داسې ورو - ورو ورتلای..."

{۲۴}

په صحراکې زما د پیښې دا اتمه ورځ وه چې د عطار کیسې مې اورېدلې او د اوبو ورستې څاڅکي مې راونښول. نو مې وکوچني شاهزاده ته وویل:

"اخ، دا ستا ډېرې ښایسته خاطرې دي، خو ما تر اوسه لا خپله الوتکه نده جوړه کړې او د څښلو دپاره هم څه نه سوه را پاته. ښونه خوند به یې کړئ وای چې که زه هم د اوبو یوه څا ته داسې "ورو ورو " ورتلای سوای!"

ده ویل: "هغه زما ګیدړې اندېوالې چې..."

"زما لالیه، د ګیدړې خبرې بالا سکولوه!"

"نو ولې؟"

"خوندې دئ چې سړی د تندې هلاک سي..."

دی زما په مطلب پوه نسو، نو یې راته ویل:

"دا خو ښه خبره ده چې سړې یو دوست ولري، حتا که سړی مري لاهم. زه کله پدې ارزم چې د یوې ګیدړې سره مې شناخت وو..."

مادځان سره ویل چي هو ، دی دې پر څه دئ، خو نه په لوړه پوهیږي نه په تنده، په دغه لږ څه لمر نو دده ګذاره ده...

وروسته یې راته وکتل او زما پر خبره راسره ولاړی، ویل یې:

" درځه چي په یوه کوهی پسي وګرزو... زه هم تږئ یم... "

ما یو څه د نا امیدئ چم وکئ، او ومي ویل چي: " دا بیځایه بولم چي په دې بې پایه صحرا کي دي په یوه کوهي پسي خپل بخت وازمویو... "

خو سره ددې مو لار پسي وروا خیستله.

موږ چي په چوپه چوپتیا کي ښه ډیر ګړئ مزل وکئ، نو راباندي شپه سوه او ستوري راوختل.داسي راته ایسېدل، لکه په خوب چي مي لیدل. د ډیري تندي مي یو څه تبه سوه.دکوچني شاهزاده خبري مي په سر کښیوتلي وې.

ما پوښتنه ځني وکړه چي: " ښه، نو ته هم تږئ یې؟ "

ده زما د پوښتني جواب رانه کړ. خو دغه یې وویل چي:

" وایي اوبه پر زړه هم ښې لګیږي... "

زه یې په خبره سم پوه نه سوم، خو ږغ مي ونه کئ... پدې ښه پوهیدم چي سړئ دي دده څخه پوښتنه نه کوي.

وروسته دی ستړی سو او کښینستئ. زه یې هم وارخ ته کښینستم، او تر لږ سکوته وروسته یې راته ویل:

"دا ستوري پدې خاطر ښایسته دي، چي سړي ته هغه ګل ورپیادوي چي څوک یې نسي لیدلای... "

ما ورته ویل: " په رښتیا هم..."

موږ دواړه چپ سولو ، ما وسپوږمۍ ته د ریګو د پرو سیل کاو.

ده پسي ویل: "دا صحرا ډیره ښایسته ده..."

دا رښتیا وه، زما هم صحرا خوښېدله. سړئ چي هلته د ریګو پر یوه لوړه غونډۍ کښیني،نو نه به څه ویني، نه به څه اوري؛ خو په دغسي چوپتیا کي به یو شئ و یني چي ځلیږي...کوچني شاهزاده ویل:

" د صحرا ښایست هم پدې کي دئ چي یوځاي لا یو کوهی پکښې وي !"

زه حیران سوم چي څنګه داسي یو دم د ریګو په دغه درازه ډکو شغلو پوه سوم. هغه وخت چي زه لا کوچنئ وم، موږ په یوه زاړه کور کي اوسېدلو. کیسې به کیدلې چي په چي په دې کور کي خزانه پټه ده، خو څوک یې په میندلو نه وو بریالئ سوی. کیدای سي چي څوک دي پسي ګرزیدلئ لا هم نه وي.خو دا زموږ په ټوله کور یې جادو کړې وه. ددې کور د زړه په تل کي

دخوشالۍ یو عجبه راز پروت وو...
نو مي وکوچني شاهزاده ته وویل چي: "هو ، که هغه کور وو ، که دا ستوري دي او که دغه بیدیا ، هغه څه چي دوي دونه په ښایسته دي، د سر په سترګو نه لیدل کیږي !"
ده راته وویل: "خوشاله سوم چي ته هم زما دګیدړي په رایه یې."
کوچنۍ شاهزاده چي خوب یووړ، نو مي په غیږ کي راواخیستئ او پر خپله لار را رهي سوم. زړه مي ډیر راته نری سوئ وو. داسی احساس مي کاوه، لکه یو نازک او قیمتي غمۍ چي مي را اخیستی وي. داسي راته ایسیدئ، لکه تر ده چي بل ماتیدونکۍ شی پر مځکه نه وي. د سپوږمۍ ورڼاته چي مي دده دا رنګ الوتي تندي ، دا پټو سترګو او دې وریښتانو ته یې کتل، چي باد ریږدوله ، نو مي دځان سره وویل: دا څه چي زه چي وینم، دا یوازي یو سربیرن پوښ دئ، اصل یې لیدل کیدلای نسي...



دده دا نیمکښنو شونډو ته مي کتل چي موسکاته ورته وې،نو مي بیا دځان سره وویل: هغه څه چي ددې بیده شاهزاده پرما سخت تأثیر کړیدئ ، هغه ویوه ګل ته دده وفا ده، هغه په ده کي دګل انځور دئ، چي که دی بیده هم وي، په خپلو وړانګو یې داسي ځلوي لکه د څراغ لمبه...او ددې سره تر دمخه لا نازک او ماتیدونکۍ راته وایسیدئ. سړئ باید پر بله ډیوه ښه پام وکړي، که نه نو دباد یوه سبلۍ یې لا وژلای سي.
په دې ډول مي دا کرۍ شپه لار وهله، چي د سپیدو دچاودلو سره سم پر یوه څاه پیښ سوم.

{۲۵}

کوچني شاهزاده وویل:"دا خلک چي دي، په ګړندیو اورګاډیو کي ګنه ګونه اچولې وي، خو خبر هم نه وي چي پر کومه روان وي. بیانو درد لاهم ورځي او پر خپل ځان څرخي راڅرخي..."
او ورپسي وویل یې چي: "داخو یې په هغه خوارۍ نه ارزي..."

دې ځاته چې مور رار سېدلي وو، دصحرا و کوهيانو ته ورته نه وو. د صحرا کوهيان په ريګوکي هسي ساده غارونه کيندل سوي وي. دغه کوهئ د کلي وکوهيانو ته ورته وو. مګر دلته خو هيڅ کلي هم نه وو، ما چي ويل زه خوب وينم.
نو مي کوچني شاهزاده ته وويل:
"دا عجبه ده، هرڅه تيار دي. غرغره، سلواغه، تناو..."
ده وخندل، تناو ته يې لاس کئ او سلواغه يې ځاته ورشوه کړه.غرغره پرڅرخيدو سوه، داسي کړهارئ يې وو، لکه زړه بادنما چي پسله ډيره خوبه بيا پر څرخيدو سي.
کوچني شاهزاده ويل:"ته يې اورې؟ مور دا ځا را ويښوو، هغه دئ سندري راته وايي..."
ما نه غوښتل چي دی په زحمت سي، نو مي ورته وويل چي:
"دا سلواغه پرتا درنه ده، ماته يې پريږده چي را ويې کاږم!"
سلواغه مي کرار کرار د ځا تر غاړې را وکښله او سمه مي ودروله.په غوږو کي مي لا دغرغرې د کړهاري نغمې وې، او په ځاکي مي، چي اوبه لا پکښي رېږديدلې، لمر وليدئ چي په رېږد يدو وو.
کوچني شاهزاده ويل: "زه په دغو اوبو پسي تږئ يم، راکوه يې چي څښم يې!"
زه هم پوه سوم، چي دی په څه پسي ګرزيدئ. سلواغه مي دده وخولې ته ونيول.ده په پټو سترګو اوبه څني وڅښلې.داسي خوږې وې لکه د اختر ورځ.دغه اوبه هسي عادي اوبه نه وې. دغه تر ستورو لاندي مزلونو، دغرغرې دسندرو او زماد دليچو د زحمت څخه را پيدا سوي وې. دې ته ورته وي،لکه زما په کوچنيوالي کي چي به د اختر دسوغاتونو اصلي خوندد ناجوګانو په شمانو، دعبادت په موسيقي اود موسکاوو په لطافت کي وه.
کوچني شاهزاده ويل: "دا ستا پر ملک خلګ راولاړ سي په يوازي يوه بڼ کي پنځه زره ګلونه وکري. خو هغه څه چي دوي يې څني غواړي، لاس ته يې نه ورځي.
ما ورته ويل: "لاس ته يې نه ورځي؟"
ده ويل: "خو سړئ کولاي سي، په هغه شي پسي چي ګرزي، يوازي يې په يوه ګل او يا په يوه غوړپ اوبو کي ترلاسه کي."
ما ورته ويل: "پدي کي خو هيڅ شک نسته."
ده ويل: "اماد سرسترګي ړندې دي، سړئ بايد د زړه په سترګو ور پسي وګوري."

ما اوبه وڅښلې، اوس مي نو بيرته سمه سا وکښله. دورځي د پيل کيدوسره ددې ريګو رنګ هم دعسلو په شان واوښتئ. د ريګو ودې ښايسته رنګ ته چي مي کتل، خو شالي مي يو په دوه سوه.نو خواشيني به مي پر څه کوله...

تردې وروسته دی بیا راته کښېنستئ او په نرمکۍ ژبه یې راته وویل چې:
"اوس به نو پر خپله وعده ودرېږې!"
ما ورته ویل: "پر کمه وعده؟"
ده ویل: ته ښه پوهېږې، هغه زما د پسه د پاره اوربوز... اوس نو د غه ګل په غاړه کې رالوید لی دئ..."
ما هم د جیبه هغه د رسمونو پاڼې را وایستلې. کوچني شاهزاده چې ورته وکتل نو په خندا یې وویل:
"دا د بائوباب ونې دي یو څه وکرم ته ورته دي."
ما "اوه "کړل، تر دې وخته مې لا په خپلو د بائوباب په انځورونو خوشاله وم!
ده ویل: "دا ګیدړه بیا ګوره...هغه غوږونه یې... داسې ایسې لکه ښکرونه... بیخي اوږده دي!"
او بیا یې وخندل.
ما ورته ویل: "ځوانکیه، ته ډېر بې انصافه یې، ما بیله خلاصو او تړلو مارانو بل څه نسوای رسمولای!"
ده ویل: "پروا نلري، دغه سم دي. هلته کوچنیان دغونه پوهېږي."
ما هم د یوه اوربوز کرښې ورښې ورته وکښلې. ده ته چې مې دا نوی رسم ورکاوه، نو مې زړه دربېدئ، چې بیا به څه نوغئ پر کښېږدي.
ما ورته ویل: "ستا به داسې څه په نیت کې وي چې زه نه یم په خبر؟"
ده جواب رانه کئ، خو دغه یې وویل چې:
"پوهېږې چې ... سبا پردا مځکه... زما د راتګ پوره یو کال کېږي..."
او پسله یو څه مکثه یې دغه لاهم وویل چې:
"زه دلته بیخي نږدې را شوه سوی وم..."
او ددې سره یې مخ تک سور سو.
ما ته په زړه کې یوه عجبه اندېښنه راولویده، نه پوهېږم چې ولی، خو پر دغه وخت یوه پوښتنه راته پیدا سوه، نو مې وده ته وویل:
"ښه، دانو داسې نابېره پېښه نه وه نوه، چې تا دا ته ورځې د مخه، یعني په هغه سهار چې د هستوګنې د سیمو څخه په زرو میله لیرې دې خپل چکرونه وهل، او موږ سره ولیدل! تا نو په دغه ورځ غوښتل چې بېرته و هغه ځای ته ځان ورسوې، چې پر راشوه سوئ وې؟"
د کوچني شاهزاده مخ نورلا سور سو.
ما پسله څه ځنډه ورته وویل چې:
"نو کلیزه به دې وه؟..."

دده مخ بیا سور سو. ده هیڅ وخت د پوښتنو جوابونه ورکول.خو که به دی سور سو، نو دا معنا یې ورکوله چې: "هو" یا "دغسي نده؟"
ما ورته ویل: "زړه ته مي وسوسې رالویږي!"
ده راته ویل چې: "ته به نو اوس ولاړ سې، په خپله الوتکه به یو څه لاس ووهي. سبا ماښام چي بیرته راسې، زه به دلته درته ولاړ یم..."
خو زما ولئ لا په هوا وو. هغه دګیدړې خبره را په یاد سوه، چي ویلي یې وه:
"که چا ځان راماوه، نو دژړا خطر هم ورسره تړلئ دئ..."

{۲۶}

د ځاوارخ ته د یوې کنډوالي د ډبرو دیوال ولاړ وو. زه چي په دې سبا ماښام دکار څخه بیرته ورته راغلم، نو مي کوچنئ شاهزاده لیدئ چي هلته جګ پر دیواله ناست وو او پښې یې لاندي راځوړلي وې.ما یې خبري اوریدلې، چي ویل یې:
"ستا لکه چي نه دي په یاد ،ټیک په ټیکه دغه ځاي نه دئ!"
ده ته به نو حتماً یو بل چا جواب ورکړی وي، ځکه ده ورغبرګه کړه چي:
"خود! خود! دغه ورځ خو ده، مګر دغه ځاي نه دئ... "
ما د دیوال پرخوا خپله لار پسي ورواخیستله، ځوک مي په سترګه نسوا او نه مي د چا ږغ اوریدئ، خو دده خبره مي بیا واوریدله چي ویل یې:
"حتماً! ته به په ریګو کي زما پل پسي راواخلې،زه به نن شپه هلته درته ولاړ یم."
زه به نو داسي شل متره د دیوال څخه لیري وم، خو هیڅ شئ مي نه لیدئ. کوچني شاهزاده پسله یو څه سکوته دغه لاهم ورته وویل چي:
"ستا ښه زهر دي؟ په ځان دي پوره باور دئ، چي ډیر عذاب نه راباندي تیروې؟"
زما په بدن کي وریښکي سوې، ځاي پرځاي ودریدم. خو تر اوسه لا نه پوهیدم چي څه پیښه ده.
کوچني شاهزاده ورته ویل: "اوس نو ایسته کیږه چي زه لاندي درغورځم!"
ما د دیواله و بیخ ته وکتل او پر ور وغورځیدم! چي ګورم، د هغو ژړو مارانو څخه، چي وایم په یو ځو ثانیو کي به مو چاره در وکړي، وکوچني شاهزاده ته جګ ولاړ وو. وخپل جیب ته مي په توپنچه پسي لاس کړ او پسي ور ومي ځغستل. خو زما په دې دربې او درزي مار کرار په ریګو کي وښویدی، او د ډبرو ترمینځ په داسي کړپې بې تلواره تیرسو لکه یو فلزي شئ.
زه نو دیوال ته داسي پر ټک او ماشه را ورسیدم. دی مي په غیږ کي ونیوئ،د مخ بڼه یې داسي الوتې وه لکه سپین سان.

وده ته مي ويل: ”دا څه نکل دئ ! ته اوس د مارانو سره لا خبري کوې؟ ! “
ما يې ژړ شال چي تل به يې په غاړه ګرزاوه، ځني ليري کئ، ټيکونه مې ور لانده کړه او او به مي کئ. دا زړه مي ونه کئ چي نوري پوښتني ځني وکم. ده ښه په ځير ځير راته وکتل، بيا يې لاسونه په غاړه کي راواچول. د زړه يې داسي دربئ وو لکه يو مرغه چي په توپک ويشتل سوئ وي او ساي يې خيژي. ما ته يې ويل:
”زه پدې خوشاله سوم چي د الوتکي هغه شئ دي پيدا کئ، چي پسي ګرزيدلې. ته به په خيرخپل کور ته بيرته ورسيږې... “
ماورته ويل:” ته څه خبر سوې؟“
اوس نو ما هم وده ته دغه ويل چي، نه مي امه وه نه تمه، خپله الوتکه مي جوړه کړه !
ده زما د پوښتني جواب را نه کئ، خو خپله خبره يې پسي پوره کړه:
”زه به هم نن خپل کور ته ولاړ سم ...“
بيا يو څه په چورت کي سو، ويل يې:
”خو زما لار ډيره اوږده ده ... ډيره د زحمت ده ... “

زه پوه سوم چي خبره بله ده. دی مي لکه يو وړوکئ ماشوم په غيږ کي ټينګ ونيوئ، خو سربيره پردې مي هم داسي احساس کاوه لکه لاندي يوه پاڼ ته چي راڅخه لويږي او د ټينګولو توان يې نه لرم..
ده رډ رډ کتل، سترګي يې په ليري ليري خواوو کي بندي وې. او دغه يې وويل:
”هغه پسه دي او د پسه د پاره سوندخ دي را سره دي او هغه اوربوز هم راسره دئ..“
په غمجن ډول يې ومسل.
ما يو ګړئ وکتل. ليدل مي چي دی کرار کرار تو ديږي. بيا مي ورته وويل چي:
”زما لاليه، ته بيريدلې... “
دی په رښتيا هم چي بيربدئ. خو سره ددې يې په خندا کرار وويل چي:
”نن ما ښام تر دې لا سخته بيره راته ګوري.“
ددې وهمه چي د پيښي مخنيوئ نسم کولاي، په ولو کي مي لکه يخي اوبه چي



راتوي سي. ماته خپل ځان معلوم وو چې د دغسې اندېښنو توان مې نه درلود، چې بیا دې نو دده خندا هیڅ نه اورم. دده خندا و ماته داسې وه لکه په وچه صحرا کې د یخو اوبو چینه.
"لالیه، زه غواړم چې تا بیا په خندا ووینم..."
مګر ده راته ویل چې:
"نن شپه به مې یو کال پوره سي. زما ستورئ به مخامخ پر هغه ځای ودرېږي، چې زه پروسږکال پر را کښته سوی وم..."
"زما کوچنئ لالیه، دغه دمار خبري دي او هغه وعده چې دي ورسره کول او دا د ستوري خبره دي، دا دي یو بد خوب نه دئ...؟"
ده زما د پوښتني جواب رانه کئ، خو دغه یې وویل چې:
"هغه څه چې مهم دي په ستورګو نه لیدل کیږي."
"بیله شکه..."
"داسي یې وبوله لکه یو ګل. که دي د یوه ګل سره مینه وه چې پر یو ستوري اوسېدئ، نو د شپې چې اسمان ته وګورې، ډیر خوند به درکړي. ټوله ستوري به د ګلانو درته ډک وي."
"بیله شکه..."
داسي یې وبوله لکه هغه اوبه، هغه ما ته چې دي د چښلو د پاره راکړې، داسي خوند یې کاوه لکه ساز. هغه غرغره، هغه تناو... په یادېږي دي... ښونه خوند یې کاوه...
"بیله شکه..."
"ته به د شپې وستورو ته ګورې. زما ټاټوبئ ډیر کوچنئ دئ، چې در و یې ښیم چې چیري دئ. دغسي لا ښه دئ! زما ستورئ به وتا ته په ستورو کي یو ستورئ وي. ته به وټولو ستورو ته په خوند ګورې... دوي به ټوله ستا ملګري سي. بیا به نو زه هم وتا ته یو سوغات درکم..."
دی بیا کټ کټ په خندا سو.
"اوف، زما کوچنئ لالیه، زه دي ددې خندا سره مینه لرم."
"زما به هم کټ مټ دغه سوغات وي... داسي مانا به درته لري لکه هغه اوبه..."
"دا څه راته وایې...؟"
"دا خلګ خپل ستوري لري، خو دا هغسي ستوري ندي لکه ستا. دیو لړ خلګو د پاره چې په سفر ځي، پر دوي خپله لار پیدا کوي، و یو لړ نورو ته بیا د وړوکو ځراغونو بل څه نه وي، ویو لړ نورو، یعني پوهانو ته بیا د علمي څېړنو موضوع وي. هغه زما سوداګر ته بیا دوي سره زر وه. خو دغه ټوله ستوري چوپ دي. او ته چې یې، ته به داسي ستوري لرې، چې هیڅوک به یې نلري..."
ددې سره سم یې بیا وخندل.

"او هر وخت چي دي ځان دلاسا کړ ( سړئ نو هر وخت ځان ته تسلي ورکوي ) په دې به خوشاله يې چي زه دي ملګرئ يم. ته به تل زما سره يې. ته به کله ناکله خپلي کړکۍ خلاصوې، هسي دخپلي دمي دغلطولو دپاره... انډيوالان چي دي ووينې، چي ته اسمان ته وګورې او وخاندې، نو ډير به حيران درته تللي وي. ته به ورته وايې چي:

"هو ! دا ستوري هر وخت ما خندوي ! " نو دوي به د ليوني خيال درباندي وکړي، او پدې ډول به مي يوه ښايسته شخړه درته جوړه کړې وي... "

او پدې پسي يې بيا وخندل.

" داسي به درته ښکاري، لکه د ستورو پر ځاي چي مي دا سي ځنګولې درکړې وي چي درته خندلاي سي..."

ده لا خندل، خو ژر بيرته جدي سو ،او ويل يې: "پوهيږې... نن شپه... مه راځه ! "

" زه تا يوازي نه پريږدم."

" داسي به ښکاري لکه زه چي ناروغه يم... لږ څه داسي لکه مرم چي، دا نو دغسي وي. مه را ځه، دغه حال مي مه وينه.په هغه زحمت يې نه..."

" زه به تا يوازي پرې نږدم. "

خو دی په غمونو کي ډوب وو.

" زه ددې مار په هکله هم درته وايم... دا مار بايد تا ونه داړي... ماران ډير موزي شيان دي، دوي دخپل ساتيري دپاره لا داړل کوي ..."

" زه به تا يوازي پرې نږدم."

خو يوه شي دکوچني شاهزاده زړه ور بيغمه کړ:

" دا رښتيا دي، دوي ته ددوهم وار داړلو دپاره زهر نه وي ورپاته ..."

ما نو دا نه وليدل، چي دی دشپې څنګه تللئ وو. داسي بې ږغ او ږوغه غورځېدلئ وو. ده وهغي خواته په ټينګ نيت سره چټک چټک ګامونه اخيستل،وروسته چي ما په تګ لا ندي کړ. ده دغونه وويل:

" اوه، ته بيا دلته يې..."

دئ غمجن وو ، زه يې تر لاس ونيولم او راته ويې ويل:

" ښه کار دي ونه کړ چي را پسي راغلې، په عذاب به سې. زه به داسي ابسم لکه مړ چي يم. خو دا به رښتيا نه وي..."

زه چپ وم.

"ته پوهیږې، هغه زما ځاي ډېر لیري دئ. زه دغه بدن دځان سره نسم وړلاي.ډیر درووند دئ."

زه چپ وم.

" هغه به دلته داسي پاته سي لکه یو زوړ غوړځول سوئ پوښ. سړئ دي نو په دغسي زړو پوښونو پسي خوا نه بدوي... "

زه چپ وم.

ده یو څه زړه دلاسه ورکئ، خو خپل کوښښ یې لا کاو، او ویل یې:



" پوهیږې، ځونه خوند به وکي. زه به هم و ستورو ته ګورم. ټوله ستوري به راته کوهیان وي، دهغي زنګ وهلي غرغړې سره. ټوله کوهیان به اوبه راکوي... "

زه چپ وم.

" عجبه ساتیرئ به وي ! ته به پنځه سوه ملیونه زنګولې لرې، زه به پنځه سوه ملیونه کوهیان لرم !"

ددې سره سم دی هم چپ سو، ځکه چي ژړا ورته ودریدله ...

" هغه دئ، پري مي ږده، چي یو ګام یوازي ورواخلم ! "

ورسته یې په ژړا دغه لا پسي وویل:



" ته پوهیږې چي... هغه زما ګل... زه مسؤلیت ورته لرم ! دی دونه کمزوری دئ او دکوچنیانو خوي یې دئ. ده ته یوازي هغه خپل څلور اغزي ور پاته دي، چي د دنیا د

ناخوالو څخه د ځان د ساتلو د پاره هیڅ په ښه نه ورځي!"
ما ځان نسواي تکیه کولاي، کښېنستم.
ده ویل:
"دلته نو ... هرڅه چې وه، بس دغه وه..."
ده یو لږ څه دمه وکړه، بیا را پورته سو، یو ګام یې واخیستئ. زما غږي تښتیدلي وه، دښورنه وم.
وبجلکي ته یې بیله هغه ژړ وښي، چي د بریښنا په شان تیر سو، بل څه نه لیدل کیده. دی یوه شېبه بې حرکته پاته وو. نارې او بغاري یې نه وهلې. وروسته دا سي ارام او نرم پر مځکه ولویدئ لکه یوه پاڼه چي د وني را شوه سي. بیله هیڅ ډول ږغ او ږوغه پر ریګو ولویدئ.

{۲۷}
پر دې پیښي به نو اوس خامخا دا شپږ کاله تیر سوي وي... ما دا کیسه تر اوسه هیچا ته نده کړې. انډیوالان مي پدې خوشاله وه چي زه یې بیرته ژو ندئ ولیدم. خو زه لا په خپل ویر اخته وم، خو ودوي ته به مي ویل چي دا نو زما ستړیا او ستوماني ده...
اوس مي زړه یو لږ څه صبر سویدئ، خو پوره لا نه... زه ټینګ یقین دئ، چي دی تر خپلي سیارې رسیدلئ دئ؛ په دې خاطر چي په دا سبا مې و رڼا ته دده بدن پیدا نه کئ. بل دا چي دونه دروند هم نه وو.
اوس چي زه د شپې و ستورو ته وګورم نو ډیر ښه خوند را کوي، زه چي وایم هلته په اسمان کي پنځه سوه ملیونه زنګولې را ته ځړیږي...
مګر یوه بله عجبه را پیښه سویده.



زما هیر سوه چي دکوچني شاهزاده دپسه واوربوز ته یوه تسمه هم ور رسم کړم.

بیله تسمې به نو دی پسه ته دا اوربوز څنګه ورتړي؟ نو دځان سره وایم چي هلته پر هغه سیاره به څه پیښه سوې وي، کیداي سي چي پسه دي په یوه کپ هغه ګل تر ځان جارکړئ وي...
خو کله ناکله بیا دځان سره وایم، چي نه، کوچنئ شاهزاده دشپې له خوا ګل په مرتبا نه خوندي کوي او پر پسه هم ښه پام کوي.

بیامي نو بیرته زړه پوړه سي، خوشاله سم او ټوله ستوري په یوه سلا راته وخاندي.
کله بیا دا اندیښنه راولویږي، چي انسان پر یوه حال نه وي، نه چي یوه شپه یې مرتبانه هیره سي... یا داچي پسه بیله ږغ او ږوغه ځني ایله سي، بیا به نو ټوله ستوري په ژړا وي... !
دغه یوډیر لوی راز دادئ.وتاسي ته هم چي دا کوچنئ شاهزاده دغونه زړه ته درتېر دئ لکه وما ته، پر ټوله دنیا به تر دې به بله مهمه پوښتنه درته نه وي چي یو ځاي لا نه یوځاي،یوه پسه چي

هغه مو لاهم نه وي ليدلئ، يو ګلاب خوړلئ دئ که يې نه دئ خوړلئ...
نو اسمان ته وګوري او دځانه پوښتنه وکړئ، چي پسه به ګلاب خوړلي وي که نه. بيا يې نو سيل کوي، چي څه پيښيږي....
خو د لويانو څخه به يو لاهم ددې خبري په لوړه معنا پوه نسي.



دغه و ماته دنړۍ تر ټولو ښايسته او غمګينه منظره ده.

که څه هم دا هغه منظره ده لکه په ورستۍ پاڼه کي چي وه، خو ما بيا هم رسم کړه، چي وتا سي ته ښه روښانه سي.دلته پر دغه ځاي کوچنئ شاهزاده ليدل سويدئ او پر د غه ځاي هم بيرته ورک سويدئ. و دغي منظرې ته ښه په ځير وګورئ. که مو يوه ورځ دافريقا پر لويه صحرا لار سوه، چي دغه ځاي پر وپيژندلاي سئ. او که چيري په نابره توګه پر دغه ځاي برابرسولاست؛ نو

زارۍ او جګړې درته کوم چې تر دغه ځاي په تلوار تیر نه سئ.

مخامخ تر دغه ستوري لاندي یولږ څه ودر بږئ! که چیري یو ما شوم پر تاسي راغئ او خندل یې، که یې طلایي وریښتان وه، که چا پوښتنه ځني کول، ده یې جواب نه ورکاوه؛ نو به پوه سئ چي څوک دئ.ما به نور په خپل غم کي نه پرېږدئ، که دئ بیرته راغئ نو مهرباني وکړي وما ته ولیکئ.

## د ژباړن لنډه پیژندنه

د فرانسوي لیکوال انتوان دو سانت_ ایکزوپېري د "کوچني شاهزاده" اثر چي د نړیوال کلاسیک ادبیاتو له جملې څخه شمیرل کیږي، د کابل پوهنتون پخواني استاد ښاغلي ډاکټر عبدلباري په پښتو ژباړلئ او د جرمني د تینتن فس مطبعې د پاریس د ګالمارد د مطبعې څخه ددې کتاب د ژباړې، چاپ او خپرولو د حقوقو تر لاسه کولو وروسته په ښکلي صحافت چاپ او نشر کړیدئ.



په جرمني کي د ها یدلبیرګ د RNZ ورځپاڼي د نوویمبر په ۱۲ نیټه د ژباړونکي او د خپرونکي موسسې د مشر ښاغلي ډاکټر والتر زاویر سره د دې کتاب د پښتو ژباړې او خپرولو په هکله مرکه کړې وه.

ډاکټر زاویر ویلي دي چي که څه هم ژباړونکي حق الزحمه نه ده اخیستې، خو زه مطمئن نه وم چي د پښتو ژباړې دپاره دې لوستونکي پیدا کړلای سم، خو زموږ دواړو هغه مینه چي د پښتو ژبې او فرهنګ سره یې لرو، ودې ته اړ ایستم چي یو څه د پیسو خطر ومنم. خو د کتاب تر چاپ دمخه د انترنیټ د لاري د یوې خبرتیا وروسته پر جنوبي کوریا، جاپان، کاناډا او متحده ایالاتو سربیره د لویدیزي اروپا د ۹ هیوادونو د ځایي خلګو له خوا غوښتنلیکونه یا (Subscription) راورسیدل او په دې ډول هم د کتاب د چاپ مالي امکان پیدا سو او هم وما ته

ثابته سوه چي د افغانانو، دغه درنه او زيږه، خو ډيره خوږه او د برمه ډکه ژبه په ټوله نړۍ کي مينه وال لري.

ښاغلی ډاکټر عبدالباري وايي چي ما د "کوچني شاهزاده" په هکله په ځانګړو ويبپاڼو کي ليدل چي دغه کتاب د نړۍ تر ۵۰ زياتو ژبو او ۱۰۰ لاډيرو لهجو ژباړل سوی وو خو د پښتو ځای پکښې خالي وو.

ددې کتاب پښتو ژباړه و ماته په لومړي قدم کي هدف نه بلکي تر هرڅه دمخه يوه وسيله وه چي دغه خلا په ډکه او پښتو د خپل هيواد د ملي او رسمي ژبي په توګه نړيوالو ته معرفي کړلای سم.

ددې کتاب د ترلاسه کولو دپاره لاندي امکانات سته:

١) و خپلي نږدې کتاب پلورنځي ته د کتاب نړيوال ستندرد شميره(آی ايس بي اين ) :ISBN 978-3-937467-39-9 په ښودلو سره کتاب راغوښتلای سئ.

٢) د انټرنيټ دلاري: www.amazon.de

٣) د خپرونکي مؤسسې ځخه : www.verlag-tintenfass.de

۴)انلاين چاري: مختار احمد احسان -لراوبر افغانستان http://www.larawbar.com

»Edition Tintenfaß«
Neckarsteinacher Str. 7 ✦ D-69239 Neckarsteinach
Tel + Fax: +49-6229-2322 ✦ email: info@verlag-tintenfass.de
www.verlag-tintenfass.de

23.10.2007

**Soeben erschienen!**
**Just appeared!**
**Viens d'apparaître !**




**Antoine de Saint-Exupéry**

# » Kočnay Shahzada «

Übersetzt von / Translated by / Traduit par Dr. Abdul Bari

**[The Little Prince / Le Petit Prince / Der kleine Prinz]**
**Pashto – Pashtu – Afghan**

96 Seiten

ISBN 978-3-937467-39-9

**€ 14,95**